دریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست



- د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي پلاوي د کازان ۱۶ام نړیوال اقتصادي فورم کې د ګډون په موخه تاتارستان ته سفر وکړ
- ستېنډرډ عالي شورا د نفتي توکو په برخه کې ۵۷ ستېنډرډونه او ازمایښتي کړنلارې تصویب کړې
- د شبرغان – الوان دښتې ۵۰۰ کیلو ولټ مزي غځولو پروژې چارې ۸۵ سلنه پرمخ تللې دي

THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS PARTICIPATED IN THE 16TH KAZAN INTERNATIONAL ECONOMIC FORUM

# اباداي
میاشتنۍ


ګڼه ۳
جوزا- ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله‌پسې ۱۸ مه ګڼه


"

اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست غوره کړی. له اقتصاد محوره سیاست څخه مو هدف دا دی، چې افغانستان ته د امنیت او ثبات له راګرځېدو وروسته افغانستان په سیمه کې د اقتصادي همکاریو، تجارت او ترانزیت په مرکز بدل شي او دا نه یوازې د افغانستان بلکې د ټولې سیمې په ګټه دی.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# ABAADI


@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست


بسم الله الرحمن الرحیم

# ابادي

میاشتنی


۳ گڼه
جوزا- ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله پسې ۱۸ مه گڼه

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي
فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار

**مسئول مدیر:** مولوي خالق‌داد تقي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست** حجت الله قاضي زاده

مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلیـکـنـه ۱

غـــونـــډې ۲ - ۹

تاتارسـتان تـه سـفر ۱۰ - ۱۹

اقتصادي پروژې، غونډې، او انفوګرافیک ۲۰ - ۳۳

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۳۶- ۴۸

English Section 1 - 4




# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴مه نېټه د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم کې د ګډون په موخه تاتارستان جمهوریت ته رسمي سفر ترسره کړ. په دې سفر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تاتارستان له ولسمشر، د موردوویا جمهوریت له ولسمشر او په ساختماني او سیمه ییزو پراختیایي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر له مرستیال سره وکتل. دغه راز د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او په اقتصادي چارو کې د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر د مرستیال الکسي اویرچوک په حضور کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې پنځه تفاهمنامې لاسلیک شوې. د دې ترڅنګ محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر مرستیال د افغانستان – روسیې لومړي سوداګریز فورم پرانیستغونډه کې هم ګډون وکړ.

د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم، چې د «روسیه - اسلامي نړۍ» تر نامه لاندې د روسیې د تاتارستان جمهوریت په کازان ښار کې ترسره شو، د نړیوالو اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره یو مهم فورم و. دا فورم د اسلامي همکاریو سازمان غړو هېوادونو او نورو اسیایي هېوادونو ترمنځ د همکاریو پر پراختیا باندې متمرکز و. بله دا چې د کازان فورم د روسیې لپاره یو ستراتیژیک فرصت و؛ ترڅو له اسلامي هېوادونو سره خپلې اقتصادي اړیکې پیاوړې کړي، په ځانګړي توګه په داسې وخت کې چې نړیوالو بندیزونو دې هېواد ته اقتصادي ننګونې رامنځته کړې دي. خو د دې ترڅنګ بیا د اسلامي نړۍ له پاره هم یو ښه فرصت و، څو وکولای شي، له دې فرصت څخه په استفادې د هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې او د سوداګرۍ کچې زیاتوالي له پاره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو هوکړه لیکونو لاسلیکولو ته هم زمینه برابره کړي.

افغانستان چې په دې نړیوال اقتصادي فورم کې یې ګډون وکړ، د سیاسي پرستیژ ترڅنګ یې په اقتصادي برخه کې هم ښې لاسته راوړنې درلودې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تاتارستان او موردوویا له ولسمشرانو سره په لیدنه کې د یادو هېوادونو له پانګوالو څخه د نفت او ګازو د استخراج او تصفیې، ساختماني پروژو، ریل پټلۍ، کانونو، صنعت، کرنې او نورو سکټورونو کې د پانګونې غوښتنه وکړه. دغه راز د دې لیدنې بله مهمه موضوع د دوه اړخیزې سوداګرۍ پراختیا وه. په ساختماني او سیمه‌ییزو پراختیایي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر له مرستیال سره په لیدنه کې بیا د خبرو موضوع د بهرنۍ پانګونې، شمال- جنوب دهلیز، افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ او ځینو نورو مسایلو راڅرخېده. په دې برخو کې د ګډ کار او همکارۍ په موخه مقابل لوري خپل بشپړ چمتووالی وښود. د افغانستان- روسیې لومړي اقتصادي فورم پرانیسته بله هغه موضوع وه چې له مخې به یې افغاني تولیداتو او محصولاتو ته په بهر کې بازارموندنه وشي. همدارنګه د روسیې او افغانستان ترمنځ د پنځو هوکړه لیکونو لاسلیک مهم پرمختګ و. د دې هوکړه لیکونو په عملي کېدو سره به ترانسپورټ او ترانزیټ او سوداګري پرمختګ وکړي، ترڅنګ به یې د نفتو او ګازو اکتشاف، استخراج او تصفیه ترسره شي. دغه راز به د سیمه ییزې سوداګرۍ صنعتي- لوجستکي کمپلکس جوړ شي. دا ټول هغه څه دي چې په رامنځته کېدو او عملي کېدو سره به یې د افغانستان اقتصادي وده ګړندۍ، سوداګري به پراخه او د هېواد زېربناوې به ورسره ورغول شي.



د ملي تدارکاتو او اقتصادي کمېسیونونو، تخنیکي او پانګونې بین الوزارتي کمېټو او یو شمېر نورو اقتصادي موضوعاتو اړوند

# غونډې



# په مهمو اقتصادي برخو کې د ځان بسیاینې پالیسۍ او طرحې تایید شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له لوري په هرات، هلمند، ننګرهار او بلخ ولایتونو کې د شېدو کرنیزو، نمایشي او ترویجي کمپلکسونو جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. یاده طرحه له هراړخیزې ارزونې وروسته د اقتصادي کمېسیون د سپارښتنو په پام کې نیولو سره تایید شوه. دغه کمپلکسونه په ۴۴۷۹ جریبه ځمکه کې جوړېږي او بزګرانو ته به د عصري او میکانیزه کرنې په برخه کې غوره خدمات وړاندې کوي.

غونډې ته د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند د چرګانو سکټور د ځان بسیاینې پالیسي هم وړاندې شوه، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته تایید شوه. افغانستان اوسمهال د چرګانو سکټور د غوښې او دانې د تولید په برخو کې ځان بسیاینې ته نږدې شوی چې د دې پالیسۍ په تطبیق سره به د هګیو د تولید په برخه کې هم خودکفا شي. اوسمهال د هېواد په کچه د چرګانو شاوخوا ۱۴ زره فارمونه فعال دي چې په مستقیم ډول پکې سل زره او په غیر مستقیم ډول پکې ۳۰۰ زره کسان په کار مصروف دي.

د اقتصادي کمېسیون دې نوبتي غونډې ته د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند د لبنیاتو سکټور د ځان بسیاینې پالیسي هم د بحث لپاره وړاندې شوه. یاده پالیسي له هراړخیزې ارزونې وروسته د اقتصادي کمېسیون د سپارښتنو په پام کې نیولو سره تایید شوه. د دې پالیسۍ په تطبیق سره به د هېواد د اړتیا وړ لبنیات په کور دننه تولید، پروسس او د مالدارۍ سکټور به ورسره وده وکړي.

په نباتي خوراکي غوړیو کې د ځان بسیاینې طرحه، چې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند وه، هم وړاندې شوه. یاده طرحه له هراړخیز بحث وروسته د اقتصادي کمېسیون د سپارښتنو په پام کې نیولو سره تایید شوه. د دې طرحې له مخې به په بېلابېلو ولایتونو کې پر شاوخوا ۲۸۹ زره هکتاره ځمکه د پنبې، سویابین، کونځلو، شړشم، زغرو او لمرګلي نباتات کرل کېږي، چې د طرحې د لومړۍ برخې په تطبیق سره به د نباتي خوراکي غوړیو په برخه کې د هېواد ۳۰ سلنه اړتیا پوره شي. د غونډې په پای کې د یوشمېر موضوعاتو تعقیبي راپورونه هم وړاندې شول، چې د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید شول.

یادې پرېکړې د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

## د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په اتمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه.

غونډې ته له اجنډا سره سم ملت ستیل او خان وزیري شرکتونو ته د بامیان ولایت د یکاولنگ ولسوالۍ د سیاه درې سیمې د اوسپنې د ظواهرو کان د قرارداد ورکړې موضوع وړاندې شوه. له مفصل بحث وروسته یادو شرکتونو ته د بامیان ولایت د یکاولنگ ولسوالۍ د سیاه درې سیمې د اوسپنې د ظواهرو د قرارداد ورکړه په دې شرط تایید شوه، چې یاد شرکتونه به په هېواد کې د اوسپنې د سل سلنه پروسس فابریکې جوړوي او له سل سلنه پروسس شوې اوسپنې څخه به ۲۰ سلنه رویالیټي کانونو او پټرولیم وزارت ته ورکوي.

دې غونډې ته د کندوز ولایت د چهاردرې ولسوالۍ د کورې تاو سیمې د گچ ډبرو د لومړي او دوهم بلاکونو د رویالیټۍ موضوع هم د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته د یاد کان د لومړي او دوهم بلاکونو د فی ټن گچ ډبرو لپاره ۲۵۰ افغانۍ رویالیټي وټاکل شوه. همدارنگه دې ترڅنگ د ننگرهار ولایت د گوشتې ولسوالۍ اړوند د لقمان ډنډ سیمې د مرمرو ډبرو کان او د دغه ولایت د حصارک ولسوالۍ اړوند د جوکان سیمې د مرمرو ډبرو کان د رویالیټې پر موضوع هم بحث وشو. له هراړخیز بحث وروسته کانونو او پټرولیم وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو کانونو د رویالیټۍ په اړه له گټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او خپل راپور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. همداراز د کاپیسا ولایت د تگاب ولسوالۍ د ولگۍ کلي د نفرایټ ډبرو د ظواهرو د قرارداد په اړه هم بحث وشو. له هراړخیز بحث وروسته د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې د نظر په پام کې نیولو سره پرېکړه وشوه، چې د یاد کان د ظواهرو کان د قرارداد ورکړه کانونو او پټرولیم وزارت ته د ٦٠ سلنه رویالیټۍ په ورکړې سره تایید ده.

د غونډې په پای کې د ننگرهار ولایت د شېرزادو ولسوالۍ د گاټ مېنه جړوبي مرکي‌خېل سیمې د سرپنټین د ظواهرو کان د قرارداد د ورکړې په اړه هم بحث وشو. له مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې کانونو او پټرولیم وزارت دې یاد کان ازادې داوطلبۍ ته وسپاري او د مالي او تخنیکي ارزونې په پایله کې دې وړ شرکت انتخاب او اقتصادي معاونیت ته یې دې وړاندیز کړي.

پورته نیول شوي تصامیم د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته واستول شول.

# په سرپل ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه
## د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرینه کې جوړه شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم په سرپل ولایت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو او د جوزجان ولایت قرقین او خماب ولسوالیو ته د برېښنا رسولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

له هراړخیز بحث وروسته د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د نظرونو په پام کې نیولو سره په سرپل ولایت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه. په دغه سوداګریز مارکېټ کې د خصوصي سکټور له لوري ۵۲ میلیون افغانۍ پانګونه کېږي چې ټولټال به ۶۲ دوکانونه ولري. یاده طرحه د منظورۍ په موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت ته راجع شوه.

د جوزجان ولایت قرقین او خماب ولسوالیو ته د برېښنا رسولو طرحې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادې طرحې ټول اړخونه و ارزوي او خپل راپور د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې سره شریک کړي.



# نشست تعقیبی به‌منظور معیاری‌سازی کارخانه‌های تولید و پروسس نمک برگزار شد

نشست تعقیبی کمیتهٔ تعیین‌شده به‌منظور معیاری‌سازی کارخانه‌های تولید و پروسس نمک، به رهبری معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ۱۴ ثور سال ۱۴۰۴ خورشیدی، در قصر مرمرین برگزار شد.

در این نشست، رهنمودی که از سوی معاونیت غذا و دوا وزارت صحت عامه تهیه شده بود، با مسئولین کارخانه‌های تولید و پروسس نمک شریک ساخته شد و از آنان خواسته شد تا تمامی فعالیت‌ها و تولیدات‌شان را مطابق این رهنمود معیاری سازند. مسئولین کارخانه‌های تولید و پروسس نمک اظهار داشتند که بسیاری از کارخانه‌ها تا حدی فعالیت‌های خود را معیاری ساخته و این روند همچنان ادامه دارد. نمایندگان کارخانه‌ها، نبود زمین و برق، و کمبود آیودین به اندازه‌ی کافی را از مشکلات بزرگ خود عنوان کردند.

در این نشست، به اتحادیه کارخانه‌های تولید و پروسس نمک وظیفه سپرده شد تا طی دو هفته، گزارش دقیق فعالیت‌های انجام‌شده در زمینهٔ معیاری شدن و مقدار تولید و نیازمندی کارخانه ها به آیودین را به‌گونه‌ی کتبی با کمیتهٔ تعیین‌شده تحت رهبری معاونیت اقتصادی شریک سازند.



# د شاوخوا ۱۸ میلیارد افغانیو په ارزښت ۲۱ پروژې تعدیل او منظورې شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. د ملي تدارکاتو کمېسیون دې نوبتي غونډې ته له اجنډا سره سم ۲۷ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې.

له بحث وروسته ۱۸ پروژې تعدیل، درې منظورې او درې لغوه شوې. همدارنګه د درېیو پروژو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې څو له ګټونکو شرکتونو سره د پروژو د قېمتونو په اړه مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي.

د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري «افغان کندمک شرکت» د دوه کلونو او «رفیع خالد تجارتي شرکت» بیا د شپږو میاشتو لپاره د تخلفاتو له امله په هر ډول پروژو کې له ګډون کولو محروم شول.

یادو شرکتونو د اړوندو وزارتونو او ادارو له شرایطو سره تر موافقې وروسته دوه پروژې ګټلې او د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري ورته منظورې شوې وې، چې دوی یې په ټاکلو قیمتونو او تدارکاتي شرایطو تطبیق او بشپړولو څخه انصراف وکړ چې په ملي پروژو کې د ځنډ لامل وګرځېدل.

په تعدیل شوو او منظور شوو پروژو کې د قوش‌تېپې کانال یوه برخه، د ارزګان ولایت په چنارتو ولسوالۍ کې د شفلوغ بند، د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د نهر السراج کانال لومړۍ لاټ، د کندهار – سپین بولدک د دویمې برخې سړک، په مختلفو ولایتونو کې د برېښنایي پروژو لپاره د اړتیا وړ وسایل او همداراز په لرې پرتو سیمو کې د باکیفیته مخابراتي او انټرنیټي خدماتو وړاندې کول شامل دي. د یادو پروژو لګښت شاوخوا ۱۸ میلیارد افغانیو ته رسېږي چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري ورکول کېږي.



# نشست نوبتی کمیسیون تدارکات ملی برگذار گردید

نشست نوبتی کمیسیون تدارکات ملی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء، برگزار گردید. این نشست، ۲۸م جوزا ۱۴۰۴ خورشیدی، در قصر مرمرین دایر شد. در نشست نوبتی کمیسیون تدارکات ملی، مطابق اجندا، ۲۹ پروژه جهت منظوری ارائه گردید. پس از بحث، ۲۴ پروژه تعدیل، دو پروژه منظور و دو پروژه دیگر لغو گردید. همچنان در مورد یک پروژهٔ دیگر، به کمیتهٔ تعیین‌شده وظیفه سپرده شد تا در مورد قیمت پروژه با شرکت برنده مذاکره نموده و گزارش آن را به رهبری کمیسیون تدارکات ملی ارائه نمایند. در میان پروژه‌های تعدیل شده و منظور شده، ساخت جیولیت رمپ میدان هوایي بین المللی احمد شاه بابا در ولایت قندهار، بازسازی تأسیسات ریلی و غیر ریلی خط آهن حیرتان ـ مزارشریف، ساخت لات اول و دوم سرک کنر ـ نورستان، بازسازی کانال شامالان ولسوالی ناوه ولایت هلمند، نصب کمره های امنیتی در گمرکات کشور و خریداری وسایل مورد نیاز پروژه های برق در ولایات مختلف شامل می‌باشند. این پروژه ها از سوی امارت اسلامی تمویل می‌گردد.





# د سټنډرډ عالي شورا د نفتي توکو په برخه کې ۵۷ سټنډرډونه او ازمایښتي کړنلارې تصویب کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سټنډرډ عالي شورا څلورمه فوق‌العاده غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په ۳۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، دا فوق‌العاده غونډه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب د دې حکم پر بنسټ چې: «سټنډرډ ملي اداره او د بې کیفیته تېلو د مخنیوي هیئت په ګډه افغانستان ته د واردېدونکو تېلو لپاره په لسو کاري ورځو کې نوی نورم جوړ کړئ او موږ ته یې راولېږئ.» جوړه شوې ده. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، په هېواد کې د اقتصادي ثبات او د عامو هېوادوالو د روغتیا خوندي ساتلو په موخه اسلامي امارت د بې‌کیفیته وارداتو د کنټرول لپاره یولړ مهم او ګټور ګامونه پورته کړي دي. دا هڅې نه یوازې د داخلي بازار کیفیت ته وده ورکوي، بلکې د مصرف کوونکو باور هم پیاوړی کوي. محترم ملا صاحب د معیار او کیفیت ارزښت ته په اشارې سره وویل، اقتصادي ثبات ته د رسېدو او پر ځان بسیا افغانستان لپاره معیار او کیفیت بنسټیز ارزښتونه دي. معیاري کول نه یوازې د صنعت، سوداګرۍ، کرنې او تولیداتو د کیفیت تضمین کوي؛ بلکې دا د صادراتو زیاتولو، د مصرف کوونکو د حقوقو خوندیتوب او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره یوه حیاتي اړتیا ده. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د افغانستان اسلامي امارت د سټنډرډ عالي شورا له لارې هڅه کړې چې د هېواد په کچه د معیارونو په برخه کې منظمې پالیسۍ جوړې او یو همغږی، شفاف او د اعتبار وړ سیستم رامنځته کړي، څو د هېواد ټول سکټورونه ترې ګټه واخلي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سټنډرډونو د تطبیق کمېټې ته سپارښتنه وکړه، څو د سټنډرډ عالي شورا له لوري تصویب شوي سټنډرډونه او د ازمایښت کړنلارې په ښه ډول تطبیق کړي. همدارز خصوصي سکټور ته هم سپارښتنه وشوه، څو په خپلو تولیداتو او وارداتو کې معیارونو او د سټنډرډ عالي شورا له لوري د تصویب شوو سټنډرډونو تطبیق ته جدي پاملرنه وکړي او خپل راپور دې د ریاست‌الوزراء له اقتصادي معاونیت سره شریکوي. د سټنډرډ عالي شورا په څلورمه فوق‌العاده غونډه کې د نفتي توکو په برخه کې شپږ سټنډرډونه او ۵۱ ازمایښتي کړنلارې تصویب شوې. دغه سټنډرډونه د ډیزلو، پټرولو، مایع ګاز او پایدار کاندنسات ګاز اړوند دي، چې تصویب یې د نفتي توکو د کیفیت د لوړولو په لور مهم ګام بلل کېږي.



په کازان ۱۶ام نړیوال اقتصادي
فورم کې د ګډون په موخه

# تاتارستان ته سفر

# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي په کازان ۱٦ام نړیوال اقتصادي فورم کې ګډون وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي د روان۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴مه نېټه د کازان ١٦م نړیوال اقتصادي فورم کې د ګډون په موخه تاتارستان جمهوریت ته سفر وکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ په دغه پلاوي کې د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي، د ترانسپورت او هوایي چلند وزیر ملا حمیدالله اخوند زاده، د لوړو زده کړو وزارت معین مولوي حافظ محمد حسیب او یو شمېر نورو مسوولینو ګډون درلود.






# د اسلامي امـــارت پلاوي د کازان ۱٦م اقتصادي فورم په پرانیستغونډه کې ګډون وکړ

. د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرســـتیال مـــحترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۵مه نېټه د تاتارستان جمهوریت په مرکز کازان ښار کې د کازان ۱٦م نړیوال اقتصـــادي فورم په پرانیســـتغونډه کې ګډون وکړ. د کازان ۱٦م فورم د ۸۷ هېوادونو د لوړپوړو چارواکو په حضور کې پرانیســـتل شـــو. د دغه فـــورم موخه د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، سوداګریزو، ترانزیټـــي او همداراز د پانګوني فرصتونو شریکـــول دي. د افغانســـتان اسلامي امارت لوپوړي پلاوي له پرانیستغونډې وروســـته د مختلفو صنعتـــي تولیداتو او محصولاتو له غرفو هم لیدنه وکړه.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند
# د روسيې د لومړي وزير له مرستيال سره وکتل

د ریاســتالوزراء اقتصــادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ثور میاشــتې په ۲۵مه نېټه په ســاختماني او سیمه‌ییزو پراختیايــي چارو کې د روســیې د لومــړي وزیر له مرســتیال ښاغلي حوســنولین مارات شاکر زیانوویچ سره وکتل. د لیدنې پر مهال دواړو لورو پر ســیاسي، اقتصادي او سوداګریزو مسایلو خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغنــي برادر اخونــد وویل، اسلامي امارت له روسیې فدراسیون غواړي څو پر سیاسي ډګر سربېره پــه اقتصادي ډګر کې هم د عملي پرمختګونو شاهدان و اوسو. اسلامي امارت تاسې ته ډاډ درکوي چې افغانســتان به د ســیمې د یو مسوول اقتصادي شریک په توګه مثبت رول ولري.

د ریاســتالوزراء اقتصــادي مرســتیال د روســیې فدراســیون لــه ستري محکمــې مننه وکــړه چې د ممنوعه ډلو له نوملړ څخه یــې د اسلامي امارت نوم لرې کړ. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنۍ سیاســت غوره کړی او هدف دا دی، چــې دغــه هېواد په ســیمه کــې د اقتصادي همکاریو، تجــارت او ترانزیټ په مرکز بدل شي. دا نه یوازې د افغانستان؛ بلکې د ټولې سیمې په ګټه دی.

مــحترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند زیاتــه کړه، په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې سیمې او لیرې پرتو هېوادونو ته د افغانســتان د صادراتو لپاره زمینه برابــره او په مختلفو برخو کــې بهرنۍ پانګونه جلب او جذب کړي. پر همدې اساس د روسیې

فدراسیون ته د زېربنا او په ارزانه بیه د کورونو جوړولو، دولتي ښوونځیو او روغتونونو، سړکونو، پلونو، اوبو بندونو، د اوبو رسولو سیستمونو او برېښنا رسولو شبکو کې د پانګونې بلنه ورکوو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان د شمال - جنوب دهلېز په مسیر کې پروت دی او لېواله دی، چې د دې دهلیز په تقویت او سیمه‌ییز اقتصادي اتصال کې مؤثر رول ولري. په دې برخه کې د روسیې په څېر د یوه ستر او تاثیر ګذاره هېواد شراکت مهم دی څو نور هېوادونه د تجارت او ترانزیټ په لاره کې خنډ جوړول د ابزار په توګه ونه کاروي.

محترم ملا صاحب د دې لیدنې پر مهال مزارشریف - هرات - کندهار اوسپنې پټلۍ د سیمې له مهمو پروژو یاده کړه او ویې ویل، دا پروژه د مرکزي او جنوبي اسیا د وصل په برخه کې مهم رول لري او اسلامي امارت د روسیې فدراسیون څخه غواړي چې د پلان مطابق یې د چارو په بشپړولو کې همکاري وکړي.

ورپسې په ساختماني او سیمه‌ییزو پراختیایي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي حوسنولین مارات خبرې وکړې. هغه وویل، له افغانستان سره د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا په موخه یې د اسلامي امارت نوم د ممنوعه ډلو له نوملړ څخه لرې کړی او هیله لري چې دا لیدنه به په نورو برخو کې مهمو پرمختګونو ته لار هواره کړي. نوموړي زیاته کړه، چمتو دي چې د ښار او کور جوړولو په پروژو کې له اسلامي امارت سره په ګډه کار وکړي.

حوسنولین مارات وویل، په افغانستان کې د ترانسپورټ په برخه کې د اسلامي امارت د لاسته راوړنو ستاینه کوي او پوهېږي چې په دې برخه کې اوسمهال په افغانستان کې ستونزه نشته. هغه زیاته کړه، د روسیې فدراسیون چمتو دی چې د شمال - جنوب دهلېز کې افغانستان ته فعاله ونډه ورکړي. نوموړي په دې اړه د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال وغوښتل چې د افغانستان له لوري رسمي استازی ورمعرفي کړي. هغه د مزارشریف - هرات - کندهار اوسپنې پټلۍ پروژې پر بشپړېدو هم ټینګار وکړ.

د روسیې د لومړي وزیر مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې پر زیاتېدو او بانکي همکاریو باندې ټینګار وکړ او ویې ویل، د یادو موضوعاتو مفصل راپور له لومړي وزیر او ولسمشر ویلادیمیر پوتین سره شریکوي. څو یې د تعقیب او تطبیق په موخه تخنیکي ټیمونه کابل ته واستوي.

دواړو لوریو له خپله اړخه د ذکر شوو موضوعاتو د تعقیب په موخه رسمي استازي معرفي او هیله یې څرګنده کړه چې د ګډې همغږۍ په صورت کې به په دې برخو کې د پام وړ پرمختګونه ولري.

حوسنولین وویل دا مجلس ډېر زیات مهم دی، هیله ده چې د دواړو هېوادونو تر منځ د عملي چارو پیل او ښې همغږۍ ته به لاره هواره کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د مورداوويا له ولسمشر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۵مه نېټه د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم په څنډه کې د مورداوویا جمهوریت له ولسمشر ارتیوم الکسیویچ زدونوف سره وکتل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې لیدنې پر مهال وویل، د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنې، سوداګرۍ، برېښنا او نورو برخو کې د همکاریو رامنځته کولو ښه فرصت برابر کړ.

افغانستان دا مهال په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې له پاره زیات فرصتونه لري، بهرني پانګوال کولای شي په دغه سکټورونو کې پانګونه وکړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، افغانستان د وچو او تازه مېوو، وطني غالیو، قېمتي ډبرو، مرمر او نورو کاني موادو باکیفیته تولیدات لري، چمتو دي چې په دې برخو کې مورداوویا جمهوریت ته صادرات پیل کړي. محترم ملا صاحب وویل، همدارنګه موږ لېواله یو چې له مورداوویا څخه د برېښنایي وسایلو، ساختماني موادو، صنعتي ماشین آلاتو، نفتي توکو، طبیعي ګاز او خام المونیمو، ریلي واګونو او ترانسپورټ اړوند وسایلو او تجهیزاتو په برخه کې د کورني ضرورت د رفع کولو په موخه د اړتیا مطابق واردات ولرو. محترم ملا صاحب همداراز د مورداوویا پانګوالو ته په افغانستان کې د صنعت، کانونو او کرنې په برخه کې د پانګونې بلنه ورکړه او هغوی ته یې د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

ورپسې د مورداوویا ولسمشر ارتیوم الکسیویچ زدونوف خبرې وکړې. هغه وویل، دا لیدنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پیل او پراختیا لپاره ښه فرصت ګڼي او مورداوویایي پانګوال د افغانستان په مارکېټ کې کار کولو ته چمتو دي. نوموړي زیاته کړه، هېواد یې د طب، کرنې، انرژۍ او درملو تولید په برخو کې ښه پرمختګونه لري او چمتو دي چې په یادو برخو کې له افغانستان سره ګډ کار وکړي. ښاغلي ارتیوم الکسیویچ زدونوف وویل، مورداوویا د کرنیزو محصولاتو په برخه کې ډېرو هېوادونو ته صادرات لري، غواړي افغانستان ته یې هم د قزاقستان – ازبیکستان له لارې پیل کړي.

مورداوویایي پانګوالو همداراز په افغانستان کې پانګونې ته لېوالتیا وښوده چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اسلامي امارت له لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

د لیدنې پر مهال د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي وویل، افغانستان چمتو دی چې د خوراکي توکو، کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو په برخه کې له مورداوویا سره په لویه کچه سوداګري پیل کړي. ښاغلي عزیزي زیاته کړه، په دې برخه کې به د افغانستان مهم شرکتونه مورداوویایي لوري ته د ګډ کار کولو په موخه ورمعرفي کړي.




# د افغانستان – روسيې لومړی سوداګريز فورم پرانيستل شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسيې د لومړي وزير مرستيال محترم الکسي اويرچوک د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۶مه نېټه د کازان ۱۶م نړيوال اقتصادي فورم په څنډه کې د افغانستان – روسيې لومړی سوداګريز فورم پرانيست.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه سوداګريز فورم د پرانيستې پر مهال وويل، د اسلامي امارت له راتګ وروسته په افغانستان کې سياسي ثبات ټينګ شوی، اقتصادي فعاليتونو پراختيا موندلې، سوداګري پراخه شوې او د کورنيو پانګوالو تر څنګ بهرنيو پانګوالو هم په مختلفو سکټورونو کې پانګونه کړې او دا چاره په ښه ډول روانه ده. محترم ملا صاحب زياته کړه، د هېواد د بيارغونې په موخه په مختلفو سکټورونو کې لويې او کوچنۍ پروژې پيل شوې دي.

د يادو پروژو چارې د اسلامي امارت تر څنګ د کورنيو او بهرنيو شرکتونو له لوري پر مخ وړل کيږي.

د رياست‌الوزراء قتصادي مرستيال وويل، اسلامي امارت د زېربنايي پروژو پر پيل سربېره د سوداګرۍ پراختيا ته هم پاملرنه کړې او غواړي سيمې او ليرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو لپاره زمينه برابره کړي. روسيه د افغاني توليداتو او محصولاتو لپاره يو ښه بازار دی.

افغانستان په دې برخه کې د اسانه شرایطو د رامنځته کېدو غوښتنه کوي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت چمتو دی چې له روسيې او منځنۍ اسيا سره د سوداګرۍ او ترانزيټ د پراختيا په موخه د سالنګ دوهم تونل وباسي. په دې برخه کې د روسيې فدراسيون تجربې ته په کتو د سالنګ دوهم تونل ايستلو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان – روسيې لومړي سوداګريز فورم په پرانيستغونډه کې يوځل بيا په شمال – جنوب دهليز کې د افغانستان پر ونډې اخيستو او همداراز د افغان – ټرانس پروژې پر پيل او تطبيق کې د روسيې فدراسيون پر همکارۍ ټينګار وکړ او ويې ويل: "موږ لېواله يو چې افغانستان د دې دهليز په تقويت او په سيمه‌ييز اقتصادي اتصال کې مؤثر رول ولري."

ورپسې د روسيې د لومړي وزير مرستيال ښاغلي الکسي اويرچوک خبرې وکړې. هغه وويل، روسيه د باثباته او پرمختللي افغانستان طرفداره ده او دا د ټولې سيمې په ګټه بولي. د نوموړي په خبره، د افغانستان وضعيت د بهبود لوري ته روان دی او په کازان ۱۶م فورم کې د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي ګډون ثابته کړه، چې افغانان په سوله کې ژوند غواړي او په سوله‌ييزه فضا کې د اقتصادي مسايلو پرمخ بيولو ته چمتو دي. هغه زياته کړه، روسي شرکتونه چمتو دي چې له افغانستان سره د کانونو استخراج، اوبو بندونو جوړولو، برېښنا توليد، د اوسپنې پټلۍ شبکو غځولو، د ترانسپورټي وسايلو توليد او همداراز سيمه‌ييز اتصال او سوداګرۍ کچې زياتېدو په برخه کې ګډ کار وکړي.

ښاغلي اويرچوک وويل، د مسکو او کابل ترمنځ د ګډ سوداګريز مرکز د رامنځته کېدو موافقتنامه لاسليک شوې، دوی هيله لري چې دا به د دواړو لورو ترمنځ د همکارۍ نوي شرايط او له موجودو امکاناتو به د استفادې لپاره ښه زمينه برابره کړي.

په ليدنه کې د روسيې د ګمرکونو مسوول هم حضور درلود. هغه وويل، د ځانګړو اسانتياوو او په ګمرکي تعرفو کې د پام وړ تخفيفونو په پام کې نيولو سره چمتو دي چې له افغانستان څخه د کرنيزو محصولاتو واردات زيات کړي.

هغه زياته کړه، غواړي له افغانستان سره د سوداګريزو اصولو ساده کولو، د سوداګريزې بيروکراسۍ له منځه وړلو او په ګمرکونو کې د ځانګړې همکارۍ او کار کولو په موخه پروتوکول رامنځته کړي.

په غونډه کې د روسيې فدراسيون د ټرانسپورټ وزارت مرستيال د افغانستان له لارې د روسيې د ترانزيټ کچې زياتېدو ته لېوالتيا وښووده او ويې ويل، په دې برخه کې د مزارشريف - هرات - کندهار اوسپنې پټلۍ پروژه ډېره مهمه ده، چې روسي او ازبيکستاني تخنيکي ټيمونه پرې ګډ کار کوي او هدف دا دی چې ژر يې عملي چارې پيل شي. په دې برخه کې اسلامي امارت له خپل لوري د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ. د افغانستان – روسيې سوداګريز فورم په پرانيستغونډه کې د تاتارستان د لومړي وزير مرستيال او د صنعت او سوداګرۍ وزير هم حضور

درلود. د تاتارستان د لومړي وزير مرستيال د خپلو خبرو پرمهال وويل، د موټر جوړولو تاتارستاني شرکتونه چمتو دي چې په افغانستان کې کار وکړي. تاتارستان چمتو دی چې په دې برخه کې د حکومتونو په کچه د ګډې همکارۍ تړون له افغانستان سره لاسليک کړي.

په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګريزو همکاريو د پراختيا په برخه کې دا ډول اقتصادي فورمونه مهم وبلل او پر دوام يې ټينګار وکړ.



# د افغانستان او روسيې فدراسيون ترمنځ

# پنځه تفاهمنامې لاسليک شوې

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسيې فدراسيون د لومړي وزير د مرستيال محترم الکسي اويرچوک په حضور کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې پنځه تفاهمنامې لاسليک شوې.

دغه تفاهمنامې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۶مه نېټه د افغانستان – روسيې د سوداګريز فورم د پرانيستغونډې په پای کې د تاتارستان جمهوريت په کازان ښار کې لاسليک شوې.

دغه تفاهمنامې د افغانستان د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د روسيې فدراسيون د ترانسپورټ وزارت ترمنځ د ترانسپورټ او ترانزيټ؛ د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ خونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې پراختيا؛د دواړو هېوادونو د يوشمېر لويو خصوصي شرکتونو ترمنځ په افغانستان کې د نفت او ګازو د اکتشاف استخراج او تصفيې او همداراز د سيمه‌ييزې سوداګرۍ او صنعتي-لوجستيکي کمپلکس جوړولو په برخو کې دي.

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روسيې فدراسيون تاتارستان جمهوريت ته له څلور ورځني رسمي سفر وروسته د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۷مه نېټه کابل ته راستون شو. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال دغه سفر د کازان ۱۶م نړيوال اقتصادي فورم کې د ګډون په موخه ترسره کړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کابل نړيوال هوايي ډګر کې له رسنيو سره د خبرو پر مهال وويل، د دې سفر پر مهال يې د تاتارستان جمهوريت له ولسمشر او د موردوويا جمهوريت له ولسمشر سره د سياسي، اقتصادي او سوداګريزو مسايلو په اړه ګټور مجلسونه درلودل.

محترم ملا صاحب همداراز وويل، د دې سفر پرمهال يې د روسيې فدراسيون د لومړي وزير له دوو مرستيالانو سره هم د کابل او مسکو ترمنځ د دوه اړخيزې سوداګرۍ زياتېدو، په افغانستان کې د روسي پانګوالو پر پانګونې، په مختلفو اقتصادي برخو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو همکاريو پر رامنځته کولو هر اړخيزې خبرې کړې دي. محترم ملا صاحب دا سفر له لاسته راوړنو ډک ياد کړ. په کازان ۱۶م نړيوال اقتصادي فورم کې د شاوخوا ۹۰ هېوادونو استازو ګډون کړی و.





# اقتصادي پروژې

## غونډې، کنفرانسونه او انفوګرافیک

# کار پروژۀ ۱۰ میگاوات برق آفتابی

## در ولایت لغمان آغاز شد



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، کار پروژه ۱۰ میگاوات برق آفتابی در ولایت لغمان را به تاریخ اول جوزا ۱۴۰۴ خورشیدی، رسماً افتتاح نمود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شده بود، اظهار داشت، جای خوشحالی است که در ولایت لغمان گامی مهم در زمینۀ تولید انرژی پاک بر می‌داریم. این اقدام نه‌تنها مقاومت این منطقه را در برابر تغییرات اقلیمی افزایش خواهد داد، بلکه نیاز کشور به انرژی پاک و پایدار را نیز تا حدی برآورده خواهد ساخت.

محترم ملا صاحب افزود، امارت اسلامی به منظور رسیدن به خودکفایی در سکتور برق، گام‌های مهمی همانند این پروژه برداشته است، که نه‌تنها در زمینۀ تولید برق اهمیت دارد؛ بلکه در تقویت اقتصاد ملی، جذب سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی، ایجاد فرصت های شغلی و ارائه خدمات بهتر به مردم نیز نقش بسزای دارد.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء اظهار داشت، مدتی پیش قراردادهای هفت پروژه مهم تولید برق در سطح کشور به امضاء رسید که ظرفیت مجموعی آن به بیش از ۲۲۸ میگاوات می‌رسد. این یک گام بی‌سابقه در عرصه تولید برق در سطح کشور است و پروژۀ کنونی نیز بخش از آن به شمار می‌رود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در مراسم آغاز کار عملی پروژه ۱۰ میگاوات برق آفتابی در ولایت لغمان بیان داشت که استراتیژی اقتصادی امارت اسلامی بر این استوار است که کشور را از نیازهای خارجی رهایی

یافته و با اتکا به ظرفیت‌های داخلی به خودکفایی برسد. از آنجا که برق به عنوان ستون فقرات رشد اقتصادی یک کشور شناخته می‌شود، این موضوع در رأس پالیسی های اقتصادی امارت اسلامی قرار دارد.

محترم ملا صاحب افزود، افغانستان به شدت به برق وارداتی متکی است که این نه تنها هزینهٔ زیاد به همراه دارد، بلکه عامل خروج مقدار چشمگیر اسعار از کشور نیز می‌شود. از این رو، چنین پروژه‌های تولید برق می‌توانند به تدریج کشور را در این بخش به خودکفایی برسانند.

در پایان، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء امنیت را مهم‌ترین عامل برای آغاز و تکمیل پروژه‌های اقتصادی و سرمایه‌گذاری در کشور دانست و به سرمایه‌گذاران از حمایت کامل امارت اسلامی اطمینان داد. محترم ملا صاحب از سرمایه‌گذاران خواست تا در بخش‌های مختلف، به‌ویژه در سکتور برق، در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند.

امارت اسلامی در این زمینه تسهیلات زیاد فراهم کرده و از هرگونه همکاری اطمینان می‌دهد. کمیتهٔ سرمایه‌گذاری بین الوزارتی که زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء فعالیت دارد، تلاش می ورزد پروسه های سرمایه‌گذاری در کشور کوتاه‌تر و تسهیلات لازم برای سرمایه‌گذاران فراهم نماید.

قابل یاد آوریست که در پروژه ۱۰ میگاوات برق آفتابی ولایت لغمان از سوی سکتور خصوصی شش میلیون دالر سرمایه‌گذاری می‌شود که با تکمیل آن، مشکل برق ساکنان منطقه تا حدی مرفوع و فعالیت‌های صنعتی توسعه خواهد یافت.

**محترم ملا عبدالغني برادر اخوند**

# په هرات کې د شاوخوا ٦٨ میلیون ډالرو په پانګونې سره د برېښنا دوې پروژې پرانیستې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په لسمه نېټه په هرات ولایت کې د ۴۳.۲ میګاواټه بادي او پنځه میګاواټه لمریزې برېښنا تولیدي پروژې پرانیستل شوې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، په هرات ولایت کې د بادي او لمریزې برېښنا د دوه مهمو پروژو د هېواد د انرژۍ سکتور د پراختیا، عصري کېدو او خودکفایۍ ته د رسېدو په برخه کې مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي. دا پروژې به نه یوازې پر وارداتي برېښنا د هېواد اتکا راکمه کړي، بلکې د چاپېریال ساتنې، دوامدارې انرژۍ او نوې ټکنالوژۍ د ترویج لپاره هم فرصتونه برابر کړي.

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال زیاتـــه کړه، افغانستان له اوږدې مودې راهیسې په وارداتي برېښنا متکـــي دی او د هېواد د ملي بودجې یوه لویه برخه هر کال د وارداتي برېښنا د پېرلو لپاره لګول کېږي. د هغه په خبره، وارداتي برېښنا له یوه لوري قیمته ده او له بل اړخه په اوږدمهال کې دا چاره ډاډمنه او ګټوره نه ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د برېښـــنا ســـکټور په برخه کې له کورنیو ظرفیتونو پر سالمې ګټې اخیستنې تمرکز کړی او په دې برخه کې جدي هڅې کوي. نوموړي زیاته کـــړه، د دغو پروژو له لارې بـــه نه یوازې د برېښـــنا د تولید ظرفیت لوړ شي، بلکـــې د هېواد اقتصادي پرمختـــګ، د کاري فرصتونو رامنځته‌کولـــو، د کورنیو او بهرنیـــو پانګوالو هڅونه او د زېربناوو پراختیا ته به هم لاره هواره شي.

په پای کې د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال ټولو کورنیو او بهرنیـــو پانګوالو ته یوځل بیـــا ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په افغانســـتان کې په مختلفو سکټورونو په ځانګړي ډول د برېښـــنا سکټور کې د پانګونې لپاره اســـانه شرایط رامنځته او په دې برخه کې یې شفاف او امن چاپېریال برابر کړی دی. پانګوال کولی شي له دې فرصت څخه پوره اســـتفاده وکړي. محترم ملا صاحب د یادو پـــروژو له قراردادي شرکتونو څخه وغوښـــتل چې چارې یې د منلو شـــوو معیارونو په پام کې نیولو سره په ښه ډول پرمخ بوځي. د یادونې وړ ده چې د خصوصي ســـکټور او افغانســـتان برېښـــنا شرکت لـــه لوري د ۴۳.۲میګاواټـــه بادي برېښـــنا پر پـــروژه څه باندې ۶۴میلیـــون ډالر او پر پنځه میګاواټه لمریزه برېښـــنا پروژه شاوخوا ۳.۵میلیون ډالر پانګونه کېږي.



# د سنو فارما، ملي شفاء او ټيجي‌ایل

## فابـــریکـــې وستایـــل شـــوې

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال مـــحترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند د درملو تولیـــدي فابریکو په ستاینغونډه کې ګډون وکړ. دغه ســـتاینغونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۰مه نېټه په عامې روغتیا وزارت کې جوړه شوې وه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناســـبت جوړ شوو مراســـمو ته وویل، باکیفیته درمل له صحي اړخه د ســـالمې انســـاني ټولنې ضمانـــت کوي او بې کیفیته درمل بیا د انســـانانو روغتیا ته زیان رسوي. په دې برخه کې په پوره اخلاص، ژمنتیا او امانتدارۍ سره د مســـوولیت ترسره کول د ټولو دخیلو اړخونو اساسي مســـوولیت دی. محترم ملا صاحب زیاتـــه کړه، که په هېواد کې د درملـــو تولیدي فابریکې له ملي او نړیوالو معیارونو سره سم درمل تولید کړي، دا به نه یوازې لویه لاســـته راوړنه وي؛ بلکې پـــر وارداتي درملو به د هېواد تکیه راکمه او په دې برخه کې به موجوده تقاضا په کور دننه پوره شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، دا چې د درملو د تولید فابریکو له جملې یوازې درېیو فابریکو ته د باکیفیته او معیاري تولید له امله د نړیوالو اصولو سره سم د جي‌ایم‌پي سرټیفیکېټونه ورکول کېږي، دا د یادو فابریکو د مســـوولینو لپاره ستره لاسته راوړنه ګڼم او له خپله اړخه ورته مبارکي وایم.

محترم ملا صاحب پر وارداتي درملو د افغانستان تکیه د ملي اقتصاد په زیان وبلله او ویې ویل، وارداتي درمل له یوه لوري په لوړ قیمت تمامېږي او له بل لوري له هېواد څخه په زیاته اندازه د اســـعارو د وتلو عامل هم ګڼـــل کېږي. د دې مهمې اړتیا په پـــام یې د درملو له تولیـــدي فابریکو وغوښـــتل چـــې لـــه ملي او نړیوالو معیارونو سره ســـم د درملو کیفیـــت او کمیت ته پوره پاملرنه وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې نور به یې په امارتي ادارو کې د اقتصادي چارو اړوند موضوعاتو پروســـې لا ســـاده، منظمې، چټکـــې او لنډې شي. مـــحترم ملا صاحب وویل، په دې اړه عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب د چارو ادارې په مشرۍ یوې کمېټې ته دنده سپارلې څو په دې برخه کې منظم طرزالعمل جوړ کړي. محترم ملا صاحب له ټولو پانګوالو وغوښتل چې د نورو سکټورونو تر څنګ په صحت سکټور کې هم پانګونه وکړي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو امارتي ادارو وغوښـــتل چې د عالیقـــدر امیرالمؤمنین شـــیخ صاحب د حکم مطابق له کورنیو تولیداتو څخه اســـتفاده وکړي، خپلـــو معیاري طبـــي مصنوعاتو ته اولویـــت ورکړي او په تدارکاتي پړاونو کې دې چارې ته جدي پاملرنه وکړي.

د یادونې وړ ده چې د ســـنو فارما، ملي شفاء او ټي‌جي ایل درمل جوړولو تولیدي فابریکو ته د معیاري درملو د تولید لـــه امله د جي‌ایم‌پـــي نړیوال اعتبـــار لرونکي سرټیفیکېټونه ورکړل شـــول. دا هغه سند دی چې له مخې یې بهرنیو هېوادونو ته صادرات کولی شي



# د صنعت اونۍ

## څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو

د ریاســـت‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال مــحترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند په کابل کې د صنعت اونۍ د څلورم ملي او نړیـــوال نندارتون پرانیســـته وکړه. دغه نندارتون د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشـــتې په شپږمه نېټه په کابل کې د افغانستان نړیوال نندارتون په مرکز کې پرانیستل شو.

مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند صنعت د هر ملت د پرمختګ اساس یاد کړ او ویې ویل، موږ د هغو هېوادونو شـــاهدان یو چې یوازې د صنعتي انقلاب له برکته یې خپل زېربنایي بنســـټونه قوي کړي، بـــې‌کاري یې له منځه وړې او خپلو تولیداتو ته یې ښــــه مارکېټونه پیدا کړي دي. مــحترم ملا صاحب زیاته کـــړه، د صنعت اونۍ یـــوازې ســـمبولیک عنوان نه، بلکـــې دا د یوه حرکت، بدلون او قوي عـــزم څرګندونه کوي، چې موږ باید لـــه وارداتي اقتصاد څخه؛ تولیدي، صادراتي او په خپلو پښو ولاړ اقتصاد لوري ته ولاړ شو.

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د اسلامي امـــارت له راتګ سره ســـم د صنعت ســـکټور د پام وړ پرمختګ کړی. تر دې دمه شاوخوا ۱۵۰۰ نوې فابریکې جوړې شـــوې، چې له امله یې نږدې اویا زره هېوادوالو تـــه د دایمـــي کار زمینه برابره شـــوې ده. اوســـمهال افغانســـتان په ۱۳۸ صنعتـــي او تولیدي سکټورونو کې خودکفایۍ ته رسېدلی، دغه پرمختګ نه یـــوازې د بېکارۍ د کمولو په برخـــه کې مهم ګام بلل کېږي، بلکـــې د اقتصادي ثبـــات او پیاوړتیا لپاره هم بنسټیز ارزښت لري.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د صنعتي کېدو لپاره پـــه بېلابېلو ولایتونو کې د صنعتي پارکونو جوړېدو ته لومړیتـــوب ورکړی، چې په نږدې ورځو کې به په صنعتي ســـاحو کې صنعت‌کارانو ته د ځمکو د ملکیت ســـند د ورکړې شـــاهدان و اوسو. دا صنعتي پارکونه به نه یوازې د تولید لپاره چاپېریال برابر کړي، بلکې لسګونه زره هېوادوالو ته به د کار زمینه هم مساعده کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د خصوصي ســـکټور د ملاتړ په موخـــه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې، چې هغه په کور دننه تولیدېږي او د هېوادوالو اړتیاوې پوره کولی شي. د دې

تر څنـــګ ټولو امارتي ادارو ته هدایت شـــوی، چې په خپلو خریداریو او تدارکاتي پروسو کې کورنیو تولیداتو او محصولاتو ته لومړیتـــوب ورکړي، که څه هم کیفیت یـــې د بهرنیو تولیداتو او محصولاتـــو په پرتله څه نا څه ټیټ وي.

د صنعــت اوونۍ څلــورم ملي او نړیــوال نندارتون په مراسمو کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د اسلامي امارت له راتګ سره په هېواد کې د پانګونې لپاره ښــه زمینه برابره شــوې ده. دا مهال د بریښـــنا، کانونو، کرنې، صنعت، ترانسپورټ، زېربناوو، مخابراتو، روغتیـــا او ګڼو نورو ســـکټورونو کې کورنیـــو او بهرنیو پانګوالـــو عملاً پانګونې کړې او پـــه دې برخه کې ورته ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوې دي.

محترم ملا صاحـــب صنعت‌کاران د هېـــواد د اقتصاد جوړولو اســـاسي ځواک وباله او د صنعت په برخه کې یې د هغوی د هڅو او نوښتونو ستاینه وکړه. هغه زیاته کړه:« تاســـې په خپلو تولیداتو کې د کیفیت، قیمت او کمیت تضمین راکـــړئ، زه له همدې ســـټېجه وعده درکوم چې د کورني تولیـــد د ملاتړ په موخه به له بهر څخه پر ورتـــه واردېدونکو اقلامو د خودکفایۍ په اندازه تعرفه لوړه کړو.»

د صنعت اوونـــۍ څلورم ملي او نړیـــوال نندارتون د هېـــواد د ملي صنعت د ودې، ظرفیتونو او لاســـته راوړنـــو د معرفي کولـــو په موخه جوړ شـــوی و چې ســـلګونو کورنیـــو شرکتونو د خوراکي توکـــو، درملو، لبنیاتو، ســـاختماني توکـــو، لاسي صنایعـــو، غالیو، پلاســـتیک، بټریو جوړولو، اوســـپنې ویلـــې کولو او لســـګونو نورو برخو کـــې خپل صنعتـــي تولیدات او کرنیز محصولات نندارې ته وړاندې کړل.

**د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال وویل، د اسلامـــي امارت له راتګ ســـره سم د صنعت سکټور د پام وړ پرمختګ کــړی. تر دې دمــه شــاوخوا ۱۵۰۰ نوې فابریکې جوړې شــوې، چې لــه امله یې نږدې اویا زره هېوادوالو ته د دایمي کار زمینـــه برابـــره شـــوې ده. اوســـمهال افغانستان په ۱۳۸ صنعتي او تولیدي ســـکټورونو کې خودکفایۍ ته رسېدلی، دغـــه پرمختـــګ نه یـــوازې د بېـــکارۍ د کمولو پـــه برخه کې مهم ګام بلل کېږي، بلکې د اقتصادي ثبات او پیاوړتیا لپاره هم بنسټیز ارزښت لري.**





# په صنعتي ساحو کې
# د ځمکې د ویش لړۍ پیل شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې په صنعتي ساحو کې صنعت‌کارانو ته د ځمکې د ملکیت سند د وېش لړۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په اوومه نېټه پیل شوه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت په صنعت او سوداګرۍ وزارت کې جوړو شوو مراسمو ته وویل، د صنعت وده د یو هېواد د اقتصادي خودکفایۍ، ټولنیز ثبات او د بې‌کارۍ کچې راټیټولو لپاره تر ټولو مؤثره طریقه ده. له همدې امله، د اسلامي امارت هدف دا دی چې د خصوصي سکتور لپاره داسې چاپېریال برابر کړي، څو هغوی په ډاډه سره پانګونه وکړي، فابریکې جوړې او د هېواد د تولیدي ځواک برخه وګرځي.

محترم ملا صاحب وویل، د صنعتي ساحو د تنظیم له لارې د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختیا، د خصوصي پانګې د جلب او جذب او همداراز د صنعتي ساحو د مدیریت، ساتنې او مراقبت په موخه د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی له لوري د صنعتي ساحو قانون توشیح شوی دی. دا قانون په صنعتي ساحو کې صنعتکارانو او پانګوالو ته د صنعتي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره لازمې زمینې او اړوندې نورې اسانتیاوې مساعدوي؛ څو له یوې خوا هېوادوالو ته کاري فرصتونه پیدا شي او له بلې خوا د هېواد په اقتصادي وده او پراختیا کې د پام وړ لاسته راوړنې ولرو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، د صنعتي ساحو جوړولو لپاره د ځمکو د ورکړې په اړه عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی حکم کړی، څو د نوي منظور شوي قانون، چاپېریال ساتنې او ښاري ماسټر پلان مطابق د کابل په څلورو خواوو کې دوه دوه زره جریبه ځمکه، په ننګرهار، کندهار او بلخ ولایتونو کې شل شل زره جریبه ځمکه، په کندوز ولایت کې لس زره جریبه ځمکه او په پاتې نورو ولایتونو کې د امکان په صورت کې د صنعتي پارک لپاره په هر ولایت کې زر جریبه ځمکه، د کوچني صنعت او تشبثاتو لپاره په هر ولایت کې له لسو څخه تر پنځوس جریبه ځمکه



ځانګړې او وسپارل شي.

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل:« د همدې هڅو په لړ کې دا دي موږ او تاسې ۹۱ صنعت‌کارانو ته د صنعتي فعالیتونو په موخه په صنعتي ســـاحو کې د ځمکو د ملکیت د ســـند د ورکړې شاهدان یوو.» هغه زیاته کړه، په صنعتي ســـاحو کې د ځمکو له وېش سره به نوی فصل پیل او هېواد به له صنعتي پلوه لا پیاوړی شي. محترم ملا صاحب په ټینګار سره د صنعتي ځمکو له ګټه اخیستونکو وغوښتل چې له یادو ځمکو څخه د تولیـــد او د صنعت د پیاوړتیا په برخه کې مناســـبه او مؤثره ګټه واخلي. صنعت‌کارانـــو ته یې ډاډ ورکړ چې اسلامـــي امارت د صنعت د اړتیاوو د پوره کولو په موخه د برېښنا پر بنســـټیزو پروژو کار پیل کړی چې له نېکه مرغه چارې یې تر ډېرې اندازې پر مخ تللې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د خصوصي ســـکټور د پیاوړتیا، اقتصـــادي ودې او ملي صنعت د پرمختګ لپاره ډېرې اسانتیاوې او امتیازات په پام کې نیولي او هدف یې دا دی چې د پانګوالو لپاره یو باوري، باثباته او خوندي چاپېریال برابر کړي. هغه زیاته کړه، اسلامي امارت ټولو صنعتکارانو او پانګه‌والو ته ډاډ او ژمنه ورکوي چې د تولید او محصولاتو د قیمت، کیفیت او کمیت د تامین په صورت کې به پر بهرنیو مشابه اموالو د خودکفایی په اندازه تعرفه لوړېږي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په کور دننه او بهر کې میشـــت افغان پانګوالو څخه وغوښتل چـــې خپل صنعت، تجربـــه او پانګه افغانســـتان ته را انتقال او د هېواد د اقتصادي بنســـټونو په پیاوړتیا، د کاري فرصتونو په برابرولو او د صنعت سکټور په پراختیا کې فعاله ونډه واخلي.

با هزینه حدود دو میلیارد افغانی

# کار ساخت ترمینل‌های معیاری ترانسپورتی

## در شماری از ولایت‌ها جریان دارد

امارت اسلامی افغانســـتان به منظور اتصال منطقه‌ای، افزایش ســـطح تجارت و فراهم‌سازی ســـهولت‌ها برای هموطنان در جریان ســـفرها، توجه خاص به بازسازی و توسعه سکتور ترانسپورت داشته است.

به همین منظور، وزارت ترانســـپورت و هوانوردی، پس از منظوری کمیســـیون تدارکات ملی به رهبری محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، کار ســـاخت ترمینل‌های معیاری ترانسپورتی برای موترهای مسافربری و باربری را در ولایت‌های کابل، غزنی، ارزگان، زابل، قندهار، میـــدان وردک، بغلان، هـــرات، هلمند، کندز، نیمروز، ننگرهار و سمنگان آغاز کرده است.

در این ترمینل‌ها ساخت مسجدها، رستورانت‌ها، دکان ها، سیســـتم‌های آبرســـانی و اطفائیه، تسهیلات برای بهبود خدمات و کنترل سرعت وسایط از طریق سیستم جی پی اس در نظر گرفته شده است. هزینهٔ مجموعی این ترمینل‌ها حدود دو میلیارد افغانی می‌باشد که از بودجهٔ امارت اسلامی تأمین می‌گردد.

با تکمیل کار این ترمینل‌های ترانسپورتی، سهولت‌های لازم در جریان سفر برای مســـافران فراهم خواهد شد، روند رفت‌وآمد موترهای باربری منظم می‌گردد، در انتقال صادرات و واردات ســـهولت‌های چشمگیر ایجاد خواهد شـــد، زمان و هزینه کاهش و میـــزان انتقالات افزایش خواهد یافت. همچنین، حوادث ترافیکی و ازدحام کمتر شده، رشد اقتصادی تقویه و برای هزاران هموطن زمینهٔ کار فراهم خواهد شد.


قابل یادآوریست که علاوه بر ترمینل‌های ترانسپورتی یاد شده، وزارت ترانســـپورت و هوانوردی پروژه‌های ساخت پارکینگ‌های معیاری ترانســـپورتی را نیز در ولایت‌های میدان وردک، هرات، فراه، نیمروز، غزنی، کندز، قندهار، کاپیسا، زابل، جوزجان، پکتیا، فاریاب، هلمند و لوگر در نظر دارد که بر اســـاس آن، خدمـــات معیاری در بخش ترانسپورت ارائه خواهد شد.





# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په افغانستان کې د متحده عربي اماراتو له ځانګړي استازي سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ کال د ثور میاشتې په ۱٦مه نېټه د افغانستان له پاره د متحده عربي اماراتو له ځانګړي استازي ښاغلي سیف محمد الکتبي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. د دغه لیدنې پر مهال د ټولګټو وزیر ملا محمد عیسی ثاني هم حضور درلود. په ناسته کې دواړو لورو د افغانستان او متحده عربي اماراتو ترمنځ د دوه اړخیزو په ځانګړي ډول اقتصادي اړیکو د پراختیا په اړه خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان له طبیعي سرچینو غني هېواد دی او اسلامي امارت هڅه کوي چې په دې زېرمو کې پانګونه جذب او پر مټ یې هېواد پر ځان بسیا کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه د متحده عربي اماراتو پانګوال کولی شي په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي. ورپسې د افغانستان له پاره د متحده عربي اماراتو ځانګړي استازي وویل، دوی غواړي په کابل کې د متحده عربي اماراتو د پانګوالو او سوداګرو کنفرانس جوړ کړي. په دې کنفرانس کې به د افغانستان له پاره پر هغو پروژو خبرې وشي، چې پر مټ به یې په افغانستان کې اقتصادي پرمختګ رامنځته شي. دغه راز نوموړي په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ او د سړکونو جوړولو په برخه کې پانګونې ته د خپل هېواد لېوالتیا وښوده.



# د شبرغان – الوان دښتې ۵۰۰ کیلو ولټ مزي غځولو پروژې چارې ۸۵ سلنه پرمخ تللې دي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ کال د ثور میاشتې په ۲۱مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د افغان انوېسټ خصوصي شرکت له مسوولینو سره وکتل.

د لیدنې پرمهال د افغان انوېسټ شرکت مسوولینو د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره د شبرغان – الوان دښتې ۵۰۰ کیلو ولټ مزي غځولو پروژې، د دښت الوان سب‌سټېشن د پراختیایي چارو او همداراز د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرب او جستو کان د کاري پرمختګونو راپورونه شریک کړل.

دوی وویل، د شبرغان – الوان دښتې ۵۰۰ کیلو ولټ مزي غځولو پروژې چارې په ښه ډول رواني دي چې اوسمهال یې ۸۵ سلنه کارونه پرمخ تللي او په ټاکلي وخت به بشپړ شي. د دښت الوان سب‌سټېشن تخنیکي مطالعات بشپړ شوي او په نږدې وخت کې به یې ساختماني چارې هم پیل شي.

د افغان انوېسټ شرکت مسوولینو زیاته کړه، یاد شرکت د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرب او جستو کان سروې بشپړه کړې او اوسمهال یې په ابتدایي ډول اکتشاف پیل کړی، چې له ۲۰۰ زیات هېوادوال پکې په کار مصروف دي. د دوی په خبره، په هېواد کې دننه د دغه کان د پروسس په موخه د معیاري فابریکې ډیزاین یې هم پیل کړی، چې له بشپړېدو وروسته به د فابریکې د جوړولو چارې پیل کړي. د دغه لیدنې پر مهال د یاد شرکت مسوولینو په یوشمېر برخو کې خپلې ستونزې هم شریکې کړې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د یاد شرکت له ترسره شوو کارونو خوښي څرګنده کړه او د ټولو شریکو شوو ستونزو د حل ډاډ یې ورکړ.

# شماری از سرمایه‌گذاران داخلی در معدن آهن حاجی‌گک

## ۶۵۰ میلیون دالر سرمایه‌گذاری می‌کند

محترم ملا عبدالغني بـرادر آخند، معاون اقتصادی ریاســت‌الوزراء، ۲۲م ثور ۱۴۰۴ خورشیدی در دفتر کارش با شماری از سرمایه‌گذاران داخلی دیدار نمود. در جریان این دیدار، سرمایه‌گذاران اظهار داشتند که آماده‌اند برای اکتشاف و استخراج یکی از بلاک های معدن آهن حاجی‌گک، در ســه مرحله به‌گونه مشترک ۶۵۰ میلیون دالر سرمایه‌گذاری نماید.

بر اســاس اطلاعات ارائه شده از سوی این سرمایه گذاران، آنان به‌طور مشترک با یک شرکت خارجی، کار اســتخراج را به‌صورت مســلکی انجــام داده و همچنیــن یک کارخانه برای پروســس مواد مطابق معیارهای بین‌المللــی و با اســتفاده از تکنالوژی پیشرفته در داخل کشــور ایجــاد خواهند کرد. این کارخانه قادر خواهد بود روزانه ۹۰۰۰ تُن آهن اسفنجی را پروسس و به شـــمش تبدیل کند که به طور مستقیم برای ۶۰۰۰ هموطنان کشور زمینه کار فراهم خواهد نمود و نیازمندی‌های کشور به آهن را به‌طور کامل تأمین خواهد کرد.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از ابراز علاقمندی به سرمایه‌گذاری این سرمایه‌گذاران در زمینهٔ اکتشاف و اســتخراج آهن استقبال نموده و اطمینان داد که امارت اسلامی همکاری کامل و حمایت همه‌جانبه را در این بخش فراهم خواهد کرد.

مــحترم ملا صاحب، بــه مســؤلین وزارت معادن و پترولیم دستور داد تا با سرمایه‌گذاران مذکور در این زمینه به‌طور مــشترک کار نموده و گزارش اقدامات خود را شریک سازند.



# د تېرو څه باندې دوه میاشتو پرمهال په برېښنا سکتور کې ۸.۲ میلیارده افغانۍ پانګونه جلب او جذب شـوې ده

**د برېښنا د تولید، توزیع او انتقال پـروژې**



**په بلخ کې ۴۰ میګاواټه لمریزه برېښنا**

**په ننګرهار کې ۴۰ میګاواټه لمریزه برېښنا**

**په هرات کې پنځه میګاواټه لمریزه برېښنا**

**د کندهار ختیځ برېښنا کوټ جوړول**

**په لغمان کې لس میګاواټه لمریزه برېښنا**

**د زابل د قلات برېښنا کوټ جوړول**

**په هرات کې ۴۳.۲ میګاواټه بادي برېښنا**

**له کجکي تر کندهار پورې د ۱۱۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځول**

د برېښنا تولید مجموعي ظرفیت:
**۱۳۸.۴۵ میګاواټه**

د پانګونې مجموعي ارزښت:
**۸.۲ میلیارده افغانۍ**

ګټه اخیستونکي:
**شاوخوا سل زره کورنۍ او سلګونه صنعتي فابریکې**



## یادونه:

د برېښنا تولید، توزیع او انتقال یادې پروژې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له لوري منظورې شوې دي.

## د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون په ځانګړې ترسره شوې غونډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او اراضي رياست په ګډون پلاوي ته دنده سپارل شوې وه چې:

د کابل په څلورو خواوو کې دې د صنعت اوليه او خفيفه لپاره دوه دوه زره جريبه ځمکه د صنعتي سيمو د جوړولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ښاري ماستر پلان مطابق د يوې کړنلارې له مخې يادې ځمکې ځانګړې او وسپارې.

په ننګرهار، کندهار او بلخ ولايتونو کې دې د صنعتي ساحو لپاره شل شل زره جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماسترپلان له مخې ځانګړې او وسپارې. همدارنګه دې د يادې ځمکې له يوې برخې څخه د کانونو د پروسس کولو لپاره هم ګټه واخيستل شي.

په کندوز ولايت کې دې لس زره جريبه ځمکه د صنعتي سيمو لپاره د اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماستر پلان مطابق ځانګړې او وسپارې.

د کوچني صنعت يا تشبثاتو لپاره دې په هر ولايت کې له لس څخه تر پنځوس جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماستر پلان مطابق ځانګړې او وسپارې.

د کابل، ننګرهار، کندهار، بلخ او کندوز ولايتونو پرته په نورو ولايتونو کې دې د امکان په صورت کې د صنعتي پارک لپاره په هر ولايت کې زر جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماستر پلان مطابق ځانګړې او وسپارې.

د فارمي مالدارۍ، کرنې او د چرګانو پالنې لپاره دې خلکو ته ملکيتاً يا په اوږدمهاله د تمديد وړ اجاره ورکولو په موخه هراړخيزه کړنلاره چمتو کړي.

**يادونه**

**په ۲۸ ولايتونو کې د ۳۶ صنعتي ساحو د جوړېدو په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی د حکم پر اساس تراوسه پورې شاوخوا ۸۰ زره جريبه ځمکه صنعت او سوداګرۍ وزارت ته انتقال شوې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوري په اتو ولايتونو کې ۱۲۵ شرکتونو ته ۶۴۹,۵ جريبه ځمکه توزيع شوې ده.**



## از ۱۴۰۱/۹/۲۲ تا ۱۴۰۳/۱۲/۷

# کمیسیون تدارکات ملی ۱۱۹ پروژه در بخش زیربنا را منظور نموده است

**پروژه‌های منظور شده:** ۱۱۹ — **هزینهٔ مجموعی:** ۳۲ میلیارد افغانی

| تکمیل‌شده | در حال اجرا | آغاز نشده | فسخ | تعویق |
|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۷۶ | ۸ | ۲ | ۱ |

| وزارت/اداره | تعداد پروژه‌های منظور شده | هزینهٔ مجموعی به میلیارد افغانی |
|---|---|---|
| وزارت فواید عامه | ۱۲ | ۱۰،۹ |
| ریاست عمومی اداره امور | ۱ | ۵،۲ |
| شاروالی کابل | ۲۹ | ۵،۱ |
| شرکت برشنا | ۴۱ | ۳،۹ |
| وزارت ترانسپورت و هوانوردی | ۷ | ۲،۶ |
| وزارت احیاء و انکشاف دهات | ۴ | ۱،۶ |

| وزارت/اداره | تعداد پروژه‌های منظور شده | هزینهٔ مجموعی به میلیون افغانی |
|---|---|---|
| وزارت مالیه | ۶ | ۵۹۴ |
| وزارت معادن و پترولیم | ۲ | ۵۶۰ |
| اداره تنظیم امور زندان‌ها | ۱ | ۵۵۹ |
| وزارت امور داخله | ۱۳ | ۵۰۲ |
| افغان ملی بانک | ۱ | ۱۰۲ |
| وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی | ۱ | ۷۹ |
| وزارت آب و انرژی | ۱ | ۶۵ |



# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند :

# پانگونه

## او د بېکارۍ په له منځه وړلو کې يې اهميت

فضل ولي شيراني

د بې کارۍ په له منځه وړلـــو کې د پانگونې اهميت، د بې کارۍ د عواملو مخينه او د پانگونې له پاره د زمينې په برابرولو کې د اسلامي امارت هڅو ته لنډه کتنه شوې ده.



## سریزه

د افغانستان اقتصاد د اشغال او جګړو، سیاسي او امنیتي بې ثباتۍ او دغه راز په هېواد کې د رامنځته شوې وچکالۍ له امله سخت زیان لیدلی دی. په دې موده کې له سترو بدلونونو، ناخوالو، نیواک او ګډوډیو سره مخامخ و. دې ستونزو او په دې وروستیو کې له ګاونډیو هېوادونو څخه د افغان کډوالو په زور ایستل، بل هغه لامل دی چې کولای شي په هېواد کې د کار پر بازار ناوړه اغیزه وکړي.

د دې له پاره چې هم هېواد پرمختګ وکړي او هم اقتصادي وده ګړندۍ شي، نو په کار داده چې هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي. د کاري زمینې برابرولو له پاره اړینه ده چې په بېلا بېلو زیربنایي سکټورونو کې سترې، متوسطې او کوچنۍ پروژې پیل شي. اوس مهال هم د هېواد په کچه د دا ډول پروژو چارې روانې دي، خو په هغه کچه نه دي چې په بشپړ ډول دې اقتصادي ثبات رامنځته او بې کاري دې له منځه یوسي. د دې له پاره یوه مهمه برخه چې کولای شي یادو ستونزو ته پای ورکړي، هغه د پانګې جلب او جذب دی. که چیرې د کورنۍ پانګې ترڅنګ بهرنۍ پانګه هم راجلب شي، کولای شو، هم خپل اقتصاد پیاوړی کړو او هم بې کارۍ ته پای ورکړو.

اسلامي امارت سره له دې چې د زېربنا، اوسپنې پټلۍ، سیمنټو د تولید، د تېلو د استخراج او کانونو په برخه کې پانګونه راجلب او جذب کړې، خو پر دې یې بسنه نه ده کړې او هڅه کوي چې په زیاته اندازه کورنۍ او بهرنۍ پانګه جذب کړي. دا چې پانګونه د بې کارۍ په له منځه وړلو کې څومره اهمیت لري، لاندې یې لولو.

## د بې کارۍ په له منځه وړلو کې د پانګونې اهمیت

په نړۍ کې د پرمختللو هېوادونو ترڅنګ مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونو کې بې کاري یوه ستره ستونزه ده. هر هېواد هڅه کوي چې د کار له پاره تقاضا زیاته کړي، څو د بې کارۍ کچه راټیټه کړي، خو لا هم ډېری هېوادونه پر دې نه دي توانیدلي چې په بشپړ ډول دې معضلې ته د پای ټکی کېږدي. په افغانستان کې د تېرو شاوخوا څلورو لسیزو ناارامیو له امله د بې کارۍ کچه لوړه شوې چې له امله یې خلک له ګڼو اقتصادي ستونزو سره مخ وو او دي. بې کاري سربېره پر دې چې ناوړه اقتصادي پایلې لري، ټولنیزه شیرازه هم له منځه وړي. په افغانستان کې د بې کارۍ کچه اوسمهال نه ده لوړه شوې، بلکې په تېرو حکومتونو کې د بې کارۍ کچه لوړه وه. د کابل د تېرې ادارې پرمهال د بې کارۍ کچه تر ۷۰ سلنې لوړه وه، سره له دې چې په زیات شمېر بهرنۍ موسسې، سازمانونه او ودانیز شرکتونه فعال وو. اسلامي امارت هم د دې معضلې منفي بعدونه او ناوړه پایلې درک کړې دي. له همدې امله یې خپل ټول تمرکز پر همدې ستونزې ور ټول کړی دی. اسلامي امارت هڅه کوي چې د بې کارۍ د رامنځته کېدو د لاملونو له منځه وړلو له پاره کار وکړي. په دې برخه کې یو لامل د پانګونې نشتوالی دی.

په افغانستان کې له تېر راهیسې دا یوه ستره ستونزه وه چې په هېواد کې د پانګونې له پاره زمینه برابره نه وه او دې چارې پر اقتصاد ناوړه اغېزه ښندلې او د بې کارۍ کچه ورسره لوړه شوې وه. که چېرې د پانګونې له پاره زمینه برابره شوې وای، نو اوس به مو هېواد په ډېرو برخو

کې ښــه پرمختگونه درلودلي وای. ولې اوس هم اوبه له ورخه تېرې نه دي. د اسلامي امارت په راتګ سره له دې چې افغانســتان له بېلا بېلو ســتونزو له هغې جملې د نړيوالې ټولنې له لــوري د محدوديتونو وضع کېدو سره مخ شــو خو بيا هم پــر دې وتوانيد چــې د اقتصاد د پرمختګ په ځانګړي ډول د پانګونې د جلب او جذب په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ولري او په دې برخه کې يې غوڅ ګامونه پورته کــړي دي. تر دې مهاله بېلا بېلو هېوادونــو او ګڼو بهرنيو کمپنيو پــه مختلفو زيربنايي، خدماتي او ټولګټو برخــو کې د پانګونې له پاره لېوالتيا ښودلې ده چې يو شمېر يې عملاً کار پيل کړی دی. له صنعت، سوداګرۍ نيولې بيا تر زېربنا او دغه راز کانونو او دې ته ورته نــورو برخو کې پانګونه راجلب شــوې او د پانګونې د ځينو پروژو عملا چارې پيل شوې دي.

د بېلګې په ډول کولای شو د ۲۶۱ ميګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد يوشمېر پروژو کې د پانګونې يادونه وکړو. دغه پروژې د کابل ولايت سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲.۷ ميګاواټه لمريزې برېښــنا پروژه، د بلخ ولايت دهدادي ســيمې کې د ۴۰ ميګاواټه لمريزې برېښــنا پروژه، په هرات ولايت کې د پنځه ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژه، په لــغمان ولايت کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښــنا پروژه، په هرات ولايت کې د ۴۳.۲ ميګاواټه بادي برېښنا پروژه، د لوګــر ولايت محمداغې ولســوالۍ کې د ۴۰ ميګاواټه لمريزې برېښــنا پروژه، د ننګرهار ولايت شيخ مصري صنعتي پارک کې د ۴۰ ميګاواټه لمريزې برېښنا پــروژه، د جوزجان ولايــت مرکز شبرغــان کې د ۵۰ ميګاواټه ګازي برېښــنا پــروژه او د کابل ولايت سروبي ولسوالۍ کې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا پروژه چې عملاً ګټې اخيستنې ته سپارل شوې ده. يادې پروژې په مجموعي ډول د ۲۶۱ ميګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت لري چې ۲۳.۷ ميليارده افغانۍ پانګونه پهکې کېږي. د دغو پروژو د چارو په بشپړېدو او عملي استفادې سره به د يوشمېر صنعتي پارکونو او همدا راز عامو هېوادوالو د برېښنا کمښت ســتونزې تر يوه حده حل او د صنعتي پارکونو په چارو کې بــه پرمختګ رامنځته شي. پر ذکر شوو پروژو سربېره د لمر، باد، ډبرو سکرو او ګازو څخه د برېښــنا د توليد په برخه کې يو شــمېر کورنيو او بهرنيو پانګوالو پانګونې ته لېوالتيا ښودلې چې په راتلونکي کې به يې عــملي چارې پيل شي. اوســمهال زمونږ هېواد افغانســتان تازه د اقتصــادي ودې او پرمختګ بهير ته داخل شوی. خو لکه د ځينو هېوادونو په څېر مونږ هم د پانګې لــه کمبود سره مخ يوو، ځکه خــو بايد د خپلې اقتصادي ودې، پرمختګ او هوســاينې لپاره هغه ټولې لارې چــارې پــه کار واچــوو چې زمونږ لــه اقتصادي پرمختګ سره مرسته کوي. لکه مخکې مو چې ياده کړې د دغه لارو چارو څخه يوه هم پانګونه ده. که چېرې موږ پر دې بريالي شوو چې پانګونه د خپل هېواد د قوانينو په رڼا کې راجلب کــړو، نو بيا کولای شــو چې زېربنايي پروژې عملي، طبيعي زيرمې استخراج، صنعت پياوړی، کرنه ميکانيزه او نور سکټورونه پر خپلو پښو ودرو. له دې سره بــه بيا موږ په رښــتيا هــم د يوه پيــاوړي اقتصاد څښــتنان او هېواد به مو پرمختللــی وي. د پانګونې په جلب او جــذب سره به مو له يوه لــوري اقتصادي وده ګړنــدۍ شي او لــه بل لــوري به په هېــواد کې د ننه هېوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته او د بې کارۍ کچه به صفر ته تقرب وکړي.

## پایله

پانګونــه د بــې کارۍ په له منځه وړلــو کې مهم رول لوبوي، ځکــه چې دا د اقتصادي ودې او کارموندنې د فرصتونو د رامنځته کولو اصلي محرک دی. د پانګې په زیاتوالي سره د کارموندنې مســتقیم فرصتونه رامنځته کېږي. کله چې په مهمو سکټورونو لکه صنعت، زراعت، ټکنالوژي او زیربناوو کې پانګونه کیږي، نوي کارخانې، پروژې او سوداګرۍ رامنځته کېږي. پانګونه په مستقیم ډول د کار فرصتونه زیاتوي او بې کاري کموي. دغه راز پانګونــه د تولید کچه لوړوي، چې له امله یې د توکو او خدماتــو تقاضا زیاتېــږي. دا د نویــو کارکوونکو اړتیا رامنځته کوي او د بې کارۍ په راکمولو نیغ په نیغه اغیزه کوي. په زیربنا، بریښنا او مخابراتو کې پانګونه د ســوداګرۍ چاپېریال ښــه کوي، چې له امله یې نوې ســوداګرۍ رامنځته کېــږي او د کار فرصتونه ورسره زیاتېږي. لنډه دا چې پانګونه د بې کارۍ په کمولو کې کلیدي رول لري، خــو دا اړینه ده چې پانګونه په هغو سکټورونو کې وشي چې د کارموندنې لوړ ظرفیت ولري او له اقتصادي ودې سره مرســته وکړي. د حکومت او خصــوصي ســکټور ترمنځ همغــږي د دې پروســې بریالیتوب نور هــم زیاتولی شي. اسلامــي امارت په همدې موخه د پانګونې د جلب او جذب له پاره عملي ګامونه پورته کړي دي. په ځینو برخو کې پانګه راجلب شوې او دغه بهیر لا روان دی.



# د کازان شپاړسم نړیوال اقتصادي فورم؛

## د اسلامي امارت له پاره غوره فرصت او لاسته راوړنې

نجیب‌الله مایار

په دغه لیکنه کې د کازان شپاړسم نړیوال اقتصادي فورم کې د اسلامي امــارت د لوړ پوړي پلاوي گــډون، د کازان اقتصادي فورم په څنډه کې لیدنې کتنو او د افغانســتان او روسیې فدراسیون ترمنځ د لاسلیک شویو هوکړه لیکونو په اړه خبرې شوې دي.



## ســـریزه

(د روســـیه – اسلامي نړۍ:) تر سرلیک لاندې د کازان شپاړسم نړیوال اقتصادي فورم د تاتارستان جمهوریت په پلازمېنه کازان ښار کې د غویي میاشتې په ۲۵ مه نېټه پرانیستل شـــو. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي هم په دې فورم کې ګډون کړی و. د دغه فورم موخه د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، ســـوداګریزو، ترانزیټي او همداراز د پانګونې فرصتونو شریکول و. د افغانستان اسلامي امارت لوپوړي پلاوي د بېلابېلـــو هېوادونو له لوړپـــوړو چارواکو سره د اقتصادي او سوداګریزو مســـایلو ترڅنګ په افغانستان کـــې د پانګونې موجودو فرصتونو په اړه رســـمي لیدنې درلودې. په دغه اقتصادي فورم کې د بېلابېلو هېوادونو بېلابېل صنعتي تولیدات ننداري ته ایښودل شوي و. د کازان نړیوال فورم د افغانستان اسلامي امارت له پاره د اقتصادي همکارۍ او پانګونې د جلب او جذب په برخه کې یو ښـــه فرصت دی. د افغانستان اسلامي امارت لوړ پـــوړي پلاوي په داســـې حال کـــې د کازان په نړیوال اقتصادي فورم کې ګډون وکړ چې په همدې ورځو کې د روسیې فدراسیون د ممنوعه ډلو له نوملړ څخه د اسلامي امارت نوم لیرې کړ.

## د کازان شپاړســـم نړیـــوال اقتصـــادي فـــورم کې د اسلامي امارت د لوړ پوړي پلاوي ګډون

د افغانســـتان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړی پلاوي د روان کال د ثور میاشتې په ۲۴مه نیټه د کازان پـــه اقتصادي فـــورم کې د ګډون پـــه موخه د تاتارستان جمهوریت پلازمېنې کازان ښار ته سفر وکړ. له اقتصادي مرستیال سره په دغه سفر کې د ترانسپورت او هوایي چلند وزیر ملا حمیدالله اخوندزاده او د صنعت او ســـوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي، او د یو شـــمېر نورو امارتي ادارو مسوولینو هم ګډون درلود. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امـــارت لوړپوړي پلاوي د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشـــتې په ۲۵مه نېټه د تاتارســـتان جمهوریت په مرکز کازان ښـــار کې د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ. د کازان غونـــډه هر کال د روســـیې د تاتارســـتان جمهوریت په پلازمېنه کازان ښار کې جوړېږي.

## د کازان اقتصادي فورم په څنډه کې د اسلامي امارت د پلاوي لیدنې کتنې

د اسلامي امارت پلاوي د دغه غونډې په څنډه کې په اقتصـــادي برخه کې هم د خپلو موخو په بیانولو سره د بېلابېلو هېوادونـــو له مشرانو او نـــورو چارواکو سره د اقتصادي اړیکو د ټینګښت او پراختیا په موخه لیدنې کتنې درلودې چې له شـــک پرته ښـــې پایلې یې هم ترلاســـه کړې. د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشـــتې په ۲۵مه نېټـــه د کازان ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم په پرانیست‌غونډه کې له ګډون وروسته د دغه فورم په څنډه کې د تاتارستان له ولسمشر رستم مینیخانوف سره وکتل. محترم ملا عبدالغني برادر

اخوند د تاتارستان له ولسمشر څخه له دې امله مننه وکړه چې دغه فورم ته یې د اسلامي امارت پلاوی ور وباله او په دې توګه یې د افغانستان او نورو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا فرصت برابر کړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، د اسلامي امارت بهرنی سیاست خپلواک، مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دی او د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د همدې سیاست پر اساس غواړي چې له تاتارستان جمهوریت سره په افغانستان کې د پانګونې فرصتونو په ځانګړې ډول د انرژۍ، زېربناوو او دوه اړخیزې سوداګرۍ د پراختیا په برخه کې اړیکې پراخې کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان حالت او شرایط د پانګونې لپاره مناسب وبلل او له تاتارستاني پانګوالو یې وغوښتل، چې په افغانستان کې د نفت او ګاز د استخراج او تصفیې، ساختماني پروژو، ریل پټلۍ جوړولو او نورو بیلابېلو برخو کې پانګونه وکړي. هغه له دوی سره په دې برخه کې د اسلامي امارت د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په دې کتنه کې څرګنده کړې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ نندارتونونه او نور اقتصادي موارد دې مطرح او جوړ شي، ترڅو په دې برخه کې له شته ظرفیتونو څخه اعظمي استفاده وشي. د تاتارستان ولسمشر ښاغلي رستم مینیخانوف په کازان فورم کې د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي ګډون مهم وباله او ډاډ یې څرګند کړ چې له افغانستان سره په مختلفو

برخو کې د اړیکو پراخولو په موخه به تاتارستاني پلاوي کابل ته واستوي. مینیخانوف زیاته کړه، اوس له افغانستان سره په ځینو برخو کې سوداګري لري او له دې ورسته به د راکړې ورکړې کچه لوړه کړي. د اقتصادي اړیکو د ټینګښت د هڅو په لړ کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۵مه نېټه په ساختماني او سیمه‌ییزو پراختیایي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر له مرستیال ښاغلي حوسنولین مارات شاکر زیانوویچ سره وکتل. د دغه کتنې اصلي موضوع دواړو لورو پر سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو مسایلو خبرې وې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له روسیې څخه وغوښتل چې د کابل او مسکو ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو سطحه لوړه او رسمي مرحلې ته یې داخله کړي څو پر سیاسي ډګر سربېره په اقتصادي برخه کې هم عملي پرمختګونه وشي.

محترم ملا صاحب ډاډ ورکړ چې افغانستان به د سیمې د یو مسوول اقتصادي شریک په توګه مثبت رول ولري.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د روسیې فدراسیون له سترې محکمې مننه وکړه چې د ممنوعه ډلو له نوملړ څخه یې د اسلامي امارت نوم لرې کړ. محترم ملاصاحب له دغه روسي چارواکي سره په کتنه کې په اقتصادي برخه کې د افغانستان د اسلامي امارت د لاسته راوړنو د تشریح په ترڅ کې وویل چې اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنی سیاست غوره کړی او موخه یې داده چې دا هېواد په سیمه کې د

اقتصادي همکاریو، تجارت او ترانزیټ په مرکز بدل شي. دا کار به نه یوازې د افغانستان؛ بلکې د ټولې سیمې په ګټه وي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې سیمې او لیرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو لپاره زمینه برابره او په مختلفو برخو کې بهرنۍ پانګونه جلب او جذب کړي. پر همدې اساس اسلامي ارمات د روسیې فدراسیون ته د ښار او په ارزانه بیه د کورونو جوړولو، دولتي ښوونځیو او روغتونونو، سړکونو، پلونو، اوبو بندونو، د اوبو رسولو سیستمونو او برېښنا رسولو شبکو کې د پانګونې بلنه ورکوي. د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان د شمال - جنوب دهلېز په مسیر کې پروت دی او لېواله دی، چې د دې دهلیز په تقویت او سیمه ییز اقتصادي اتصال کې مؤثر رول ولري. په دې برخه کې د روسیې په څېر د یوه ستر او تاثیر ګذاره هېواد شراکت مهم دی څو نور هېوادونه د تجارت او ترانزیټ په لاره کې خنډ جوړول د ابزار په توګه ونه کاروي. محترم ملا صاحب د دې لیدنې پر مهال افغان – ټرانس د سیمې له مهمو پروژو یاده کړه او ویې ویل، دا پروژه د مرکزي او جنوبي اسیا د وصل په برخه کې مهم رول لري او اسلامي امارت د روسیې فدراسیون څخه



غواړي چې د پلان مطابق یې د چارو په بشـــپړولو کې همکاري وکړي. په ساختماني او سیمه‌ییزو پراختیایي چارو کې د روســـیې د لومړي وزیر مرســـتیال ښاغلي حوســـنولین مـــارات وویل، له افغانســـتان سره د دوه اړخیزو ســـیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا په موخه یې د اسلامي امـــارت نوم د ممنوعه ډلو له نوملړ څخه لرې کړی او هیله لري چې دا اوسنۍ لیدنه به په نورو برخو کـــې مهمو پرمختګونو ته لار هواره کړي. نوموړي زیاته کړه، چمتو دي چې د ښار او کور جوړولو په پروژو کې لـــه اسلامي امـــارت سره پـــه ګـــډه کار وکړي. حوســـنولین مـــارات وویـــل، پـــه افغانســـتان کې د ترانسپورټ په برخه کې د اسلامي امارت د لاسته راوړنو ستاینه کوي او پوهېږي چې په دې برخه کې اوس په افغانســـتان کې هېڅ ســـتونزه نشـــته. هغه د روسیې فدراسیون د چمتو والي یادونه وکړه چې غواړي شمال – جنوب دهلېز کې افغانســـتان ته فعاله ونډه ورکړي. نوموړي پـــه دې اړه د ریاســـت‌الوزراء لـــه اقتصادي مرستیال وغوښـــتل چې دوی ته د افغانستان له لوري رســـمي اســـتازی ورمعرفي کړي او د افغان ـ ټرانس پروژې پر بشـــپړېدو یې هم ټینګار وکړ. د روســـیې د لومـــړي وزیـــر مرســـتیال د دواړو هېوادونـــو ترمنځ د ســـوداګرۍ کچې پر زیاتېدو او بانکي همکاریو باندې ټینـــګار وکړ او ویـــې ویل چې د افغانســـتان اسلامي امـــارت د پلاوي له خوا د وړاندیز شـــویو موضوعاتو او مســـایلو مفصل راپور د روســـیې له لومـــړي وزیر او ولســـمشر ولادیمیـــر پوتین سره شریکـــوي. څو یې د تعقیب او تطبیق په موخه تخنیکي ټیمونه کابل ته

واســـتوي. دواړو لوریـــو لـــه خپله اړخه د ذکر شـــوو موضوعاتو د تعقیب په موخه رسمي استازي معرفي او هیله یې څرګنـــده کړه چې د ګډې همغږۍ په صورت کې به پـــه دې برخو کې د پـــام وړ پرمختګونه ولري. حوسنولین دا کتنه ډېره مهمه وبلله او هیله یې وښوده چې دا بـــه د دواړو هېوادونو تر منځ د عملي چارو پیل او ښـــې همغږۍ ته لاره هواره کړي. د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۵مه نېټه د کازان ۱۶م نړیـــوال اقتصادي فورم پـــه څنډه کې د موردوویا جمهوریت له جمهور رئیس ارتیوم الکسیویچ زدونوف سره په کتنه کـــې ، د کازان نړیوال اقتصادي فـــورم د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنې، ســـوداګرۍ، برېښـــنا او نورو برخو کې د همکاریو رامنځته کولو له پاره ښـــه فرصت وباله. مـــحترم ملا صاحب زیاته کړه، افغانســـتان اوس په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې له پاره خورا ښـــه فرصتونه لري، بهرني پانګوال کولای شي په دغه ســـکټورونو کې پانګونه وکړي. د ریاســـت الوزراء اقتصادي مرستیال په دې کتنه کې ټینګار وکړ چې افغانســـتان د وچـــو او تازه مېـــوو، وطني غالیو، قیمتـــي ډبـــرو، مرمر او نـــورو کاني مـــوادو باکیفیته تولیـــدات لري او چمتـــو دي چې پـــه دې برخو کې موردوویـــا جمهوریت ته صادرات پیل کړي. محترم ملا صاحب وویل، افغانستان لیوالتیا لري چې له موردوویا څخه د برېښنایي وســـایلو، ساختماني موادو، صنعتي ماشین آلاتو، نفتي توکو، طبیعي ګاز او خام المونیمو، ریلي واګونو او ترانسپورټ اړوند وسایلو او تجهیزاتو په

برخه کې د کورني ضرورت د رفع کولو په موخه د اړتیا مطابق واردات ولري. محترم ملا صاحب همداراز د مورودویا پانګوالو ته په افغانستان کې د صنعت، کانونو او کرنې په برخه کې د پانګونې بلنه ورکړه او هغوی ته یې د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ. د مورودویا ولسمشر ارتیوم الکسیویچ زدونوف دا لیدنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پیل او پراختیا لپاره ښه فرصت وګاڼه او د افغانستان په مارکیټ کې یې د مورودویایي پانګوالو د پانګونې د چمتو والي یادونه وکړه. د دغه هېواد د چارواکو په وینا مورودویا د طب، کرنې، انرژۍ او درملو تولید په برخو کې ښه پرمختګونه لري او چمتو دي چې په یادو برخو کې له افغانستان سره ګډ کار وکړي. دغه هېواد همدا راز د کرنیزو محصولاتو په برخه کې ډېرو هېوادونو ته صادرات لري او غواړي افغانستان ته یې هم د قزاقستان او ازبکستان له لارې پیل کړي. مورودویایي پانګوالو همداراز په افغانستان کې پانګونې ته لېوالتیا وښوده چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړل شو. د لیدنې پر مهال د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي وویل، افغانستان چمتو دی چې د خوراکي توکو، کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو په برخه کې له مورودویا سره په لویه کچه سوداګري پیل کړي. ښاغلي عزیزي زیاته کړه، په دې برخه کې به د افغانستان مهم شرکتونه مورودویایي لوري ته د ګډ کار کولو په موخه ورمعرفي کړي.

## په اقتصادي برخه کې؛ ګډ سوداګریز فورم او سوداګریزې هوکړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر مرستیال الکسي اویرچوک د کازان نړیوال اقتصادي فورم په څنډه کې د افغانستان – روسیې لومړی سوداګریز فورم پرانیست. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه فورم پرانیست غونډې ته وویل، د اسلامي امارت له راتګ وروسته په افغانستان کې سیاسي ثبات ټینګ شوی، اقتصادي فعالیتونو پراختیا موندلې، سوداګري پراخه شوې او د کورنیو پانګوالو تر څنګ بهرنیو پانګوالو هم په مختلفو سکټورونو کې پانګونه کړې او دا چاره په ښه ډول روانه ده. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د هېواد د بیارغونې په موخه په مختلفو سکټورونو کې لویې او کوچنۍ پروژې پیل شوې دي. د یادو پروژو چارې د اسلامي امارت تر څنګ د کورنیو او بهرنیو شرکتونو له لوري پر مخ وړل کیږي .د ریاست‌الوزراء قتصادي مرستیال د دغه فورم د پرانیستې پر وخت وویل چې اسلامي امارت د زېربنایي پروژو پر پیل سربېره د سوداګرۍ پراختیا ته هم پاملرنه کړې او غواړي سیمې او لیرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو لپاره زمینه برابره کړي. د هغه په خبره روسیه د افغاني تولیداتو او محصولاتو لپاره یو ښه بازار دی او افغانستان په دې برخه کې د اسانه شرایطو د رامنځته کېدو غوښته کوي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت له روسیې او منځنۍ آسیا سره د سوداګرۍ او ترانزیت پراختیا ته چمتو دی او په همدې موخه غواړي د افغانستان د سویل ـ لویدیځ د لویې لارې په مسیر کې

د سالنګ دوهم تونل هم و باسي چې د روسيې فدراسيون په دې برخه کې ښه تجربه لري او له افغانستان سره دې په دې برخه کې همکاري وکړي. د روسيې د لومړي وزير مرستيال ښاغلي الکسي اويرچوک باثباته او پرمختللي افغانستان د ټولې سيمې په ګټه وباله او څرګنده يې کړه چې روسيه له دې کار څخه ملاتړ کوي. د نوموړي په خبره، د افغانستان وضعيت د ښه کېدو په لور روان دی او په کازان ۱۶م فورم کې د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي ګډون ثابته کړه، چې افغانان په سوله کې ژوند غواړي او په سولهييزه فضا کې د اقتصادي مسايلو پرمخ بيولو ته چمتو دي. هغه زياته کړه، روسي شرکتونه چمتو دي چې له افغانستان سره د کانونو استخراج، اوبو بندونو جوړولو، برېښنا توليد، د اوسپنې پټلۍ شبکو غځولو، د ټرانسپورټي وسايلو توليد او همداراز سيمهييز اتصال او سوداګرۍ کچې زياتېدو په برخه کې ګډ کار وکړي. ښاغلي اويرچوک وويل، د مسکو او کابل ترمنځ د ګډ سوداګريز مرکز د رامنځته کېدو موافقتنامه لاسليک شوې، دوی هيله لري چې دا به د دواړو لورو ترمنځ د همکارۍ نوي شرايط او له موجودو امکاناتو به د استفادې لپاره ښه زمينه برابره کړي. د روسيې د ګمرکونو مسوول وويل چې د ځانګړو اسانتياوو او په ګمرکي تعرفو کې د پام وړ تخفيفونو په پام کې نيولو سره دا اداره چمتو ده چې له افغانستان څخه د کرنيزو محصولاتو واردات زيات کړي. هغه زياته کړه، غواړي له افغانستان سره د سوداګريزو اصولو ساده کولو، د سوداګريزې بيروکراسۍ له منځه وړلو او په ګمرکونو کې د ځانګړې همکارۍ او کار کولو په موخه پروتوکول رامنځته کړي. په دې غونډه کې د روسيې فدراسيون د ټرانسپورټ وزارت مرستيال د افغانستان له لارې د روسيې د ترانزيټ کچې زياتېدو ته لېوالتيا وښووده او ويې ويل، په دې برخه کې د افغان – ټرانس پروژه ډېره مهمه ده، چې روسي او ازبيکستاني تخنيکي ټيمونه پرې ګډ کار کوي او موخه يې داده چې ژر يې عملي چارې پيل شي. په دې برخه کې اسلامي امارت له خپل لوري د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ. د افغانستان – روسيې سوداګريز فورم په پرانيستغونډه کې د تاتارستان د لومړي وزير مرستيال او د صنعت او سوداګرۍ وزير هم حضور درلود. د تاتارستان د لومړي وزير مرستيال د خپلو خبرو پرمهال وويل، د دغه هېواد د موټر جوړولو شرکتونه چمتو دي چې په افغانستان کې کار وکړي. د هغه په وينا دا هېواد چمتو دی چې په دې برخه کې د حکومتونو په کچه له افغانستان سره د ګډې همکارۍتړون لاسليک کړي. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګريزو همکاريو د پراختيا په برخه کې دا ډول اقتصادي فورمونه مهم وبلل او پر دوام يې ټينګار وکړ.

## د افغانستان او روسيې فدراسيون ترمنځ پنځه تفاهمنامې لاسليک شوې

تاتارستان جمهوريت ته د افغانستان اسلامي امارت لوړ پوړي پلاوي د سياسي، اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د هڅو د ټينګښت په موخه د بېلابېلو هېوادونو له چارواکو سره د کتنو په لړ کې له روسيې فدراسيون سره په بېلابېلو برخو کې پنځه تفاهمنامې هم لاسليک کړې. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني

برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسيې فدراسيون د لومړي وزير د مرستيال محترم الکسي اويرچوک په حضور کې دا پنځه تفاهمنامې لاسليک شوې. دغه تفاهمنامې د روان کال د ثور مياشتې په ۲۶مه نېټه د افغانستان – روسيې د سوداګريز فورم د پرانيستغونډې په پای کې د تاتارستان جمهوريت په کازان ښار کې لاسليک شوې. دغه تفاهمنامې د افغانستان د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د روسيې فدراسيون د ترانسپورټ وزارت ترمنځ د ترانسپورټ او ترانزيټ؛ د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ خونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې پراختيا؛د دواړو هېوادونو د يوشمېر لويو خصوصي شرکتونو ترمنځ په افغانستان کې د نفت او ګازو د اکتشاف استخراج او تصفيې او همداراز د سيمه‌ييزې سوداګرۍ او صنعتي- لوجستيکي کمپلکس جوړولو په برخو کې دي.

## پایله

د کازان نړيوال اقتصادي فورم په سيمه کې يوه مهمه غونډه ده چې د سيمې هېوادونه د خپل هېواد توليدات، ظرفيتونه او فرصتونه نړيوالو ته رسوي. د افغانستان اسلامي امارت پلاوي له دغه فرصت څخه خورا غوره استفاده وکړه، نه يوازې يې افغاني توليدات او محصولات د نړيوالو ننداړې ته وړاندې کړل، بلکې د افغانستان اقتصادي سياست، تګ لارې، موخې او لاس ته راوړنې يې هم تر بهرنيانو ورسولې. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر په مشرۍ دغه پلاوي وکولای شول چې د افغانستان ښه استازيتوب وکړي او د سيمې له هېوادونو او په تېره بيا لوړ پوړو روسي چارواکو سره په کتنه کې يې د افغانستان اقتصادي سياست روښانه کړ او دا يې په ټينګار سره وويل چې اسلامي امارت غواړي د افغانستان د پرمختګ او اقتصادي پياوړتيا په موخه په هېواد کې د پانګونې له پاره آسانه او ډاډمن شرايط چمتو کړي او ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته بلنه ورکوي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. له نړيوالو او سيمه ييزو فرصتونو څخه دا ډول استفاده کولای شي له يوې خوا نړيوالو ته په افغانستان کې شته فرصتونه واضح شي او له بلې خوا د اسلامي امارت په اړه شوي پروپاګندونه شنډ کړي.



which benefits the entire region. He noted that Afghanistan is moving in a positive direction and the participation of the high-level Afghan delegation in the 16th Kazan Forum proved that Afghans desire peace and are ready to pursue economic progress in a peaceful environment.

He added that Russian companies are prepared to cooperate with Afghanistan in areas such as mineral extraction, dam construction, electricity generation, railway network expansion, manufacturing of transport vehicles, regional connectivity, and increasing trade volume.

Mr. Alexei Overchuk stated that an agreement has been signed for the establishment of a joint trade center between Moscow and Kabul. He expressed hope that this initiative would create new conditions for cooperation and provide a better platform for utilizing existing resources.

Also present at the meeting were the Deputy PM of Tatarstan, the head of the Russian customs authority, and the Deputy Minister of Transport of the Russian Federation. They discussed significant tariff reductions, the expedited implementation of the Afghan-Trans project, and the readiness of Tatarstan-based vehicle manufacturing companies to operate in Afghanistan.

On the same day, five MoUs were signed between the two countries in the presence of Deputy PM Mullah Baradar Akhund, and Deputy PM Alexei Overchuk.

The MoUs covered the following areas:

***1. Transport and Transit*** – between Afghanistan's Ministry of Transport and Aviation and the Russian Federation's Ministry of Transport;

***2. Expansion of Trade Volume*** – between the chambers of commerce of both countries;

***3. Oil and Gas Sector*** – between private companies from both countries for exploration, extraction, and refining of oil and gas in Afghanistan;

***4.Regional Trade and Industrial Cooperation*** – on developing a regional industrial-logistics complex;

After a four-day official visit to the Republic of Tatarstan, Russian Federation, Deputy PM Mullah Baradar Akhund returned to Kabul on Saturday, May 17, 2025. Speaking to the media at Kabul International Airport, he stated that during this visit he held productive discussions with the Presidents of Tatarstan and Mordovia on political, economic, and trade matters.

He further added that he also met with two Deputy PMs of the Russian Federation to discuss strengthening bilateral trade between Kabul and Moscow, encouraging Russian investment in Afghanistan, and creating frameworks for joint cooperation in various economic sectors.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund emphasized that during the trip, the Afghanistan–Russia Business Forum was inaugurated, and five important MoUs were signed focusing on transport, transit, bilateral trade, and private sector cooperation. He described the visit as full of valuable achievements.

the North-South Corridor and is eager to play an effective role in strengthening this corridor and enhancing regional economic connectivity. He stressed the importance of the partnership of a major and influential country like Russia to prevent other countries from using obstacles in trade and transit routes as leverage.

During the meeting, he also mentioned that the "Afghan-Trans" railway project plays a significant role in connecting Central and South Asia, and the Islamic Emirate calls on the Russian Federation to cooperate in initiating practical steps for the project as per the plan.

In response, Mr. Khusnullin, Deputy PM of Russia for Construction and Regional Development, stated that in an effort to expand bilateral political and economic relations with Afghanistan, the Islamic Emirate has been removed from Russia's list of banned groups. He expressed hope that this meeting would pave the way for further progress in various sectors. He added that Russia is ready to work jointly with the Islamic Emirate on urban and housing construction projects.

Mr. Khusnullin stated that the Russian Federation is ready to provide Afghanistan with an active role in the North-South Corridor. He requested Deputy PM Mullah Baradar Akhund to officially designate a representative from Afghanistan for this purpose. He also emphasized the need to complete the Afghan-Trans railway project.

The Russian Deputy PM stressed the importance of increasing the volume of trade and banking cooperation between the two countries. He stated that a detailed report on these topics would be shared with the PM and President Vladimir Putin, and technical teams would be dispatched to Kabul for follow-up and implementation.

On May 16, the First Afghanistan–Russia Business Forum was inaugurated by Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy PM for Economic Affairs, and Mr. Alexei Overchuk, Deputy PM for Economic Affairs of Russia.

During the inauguration, Deputy PM Mullah Baradar Akhund stated that since the re-establishment of the Islamic Emirate, political stability has been established in Afghanistan, economic activities have expanded, trade has flourished, and alongside domestic investors, foreign investors have also begun investing in various sectors. He added that large and small-scale projects have been initiated across multiple sectors for the reconstruction of the country. These projects are being implemented in collaboration with both domestic and international companies.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund said the Islamic Emirate seeks to facilitate the export of Afghan products to regional and distant countries, and that Russia represents a significant market for Afghan goods. Afghanistan calls for the creation of simplified mechanisms to enhance this trade. He further mentioned that the Islamic Emirate is ready to construct the Second Salang Tunnel to develop trade and transit with Russia and Central Asia, and requested Russian cooperation in the construction process, given Russia's experience in this area.

In his remarks, Mr. Alexei Overchuk, Deputy PM for Economic Affairs of Russia, stated that Russia supports a stable and developed Afghanistan,

Minnikhanov, said that Tatarstan will send delegations to Kabul to strengthen relations with Afghanistan in various areas. Minnikhanov added that there is currently some level of trade with Afghanistan, but they are now ready to increase the volume of exchanges. The Director General of Kamaz Trucks Company stated that Tatarstan is prepared to increase exports of Kamaz freight trucks and fire engines to Afghanistan. Additionally, the Minister of Agriculture and Food of the Republic of Tatarstan stated that they are ready to increase exports of halal food products to Afghanistan.

On the Same Day, Deputy PM Mullah Baradar Akhund Met with the Head of the Republic of Mordovia, Artyom Alekseyevich Zdunov

During the meeting, Deputy PM Mullah Baradar Akhund stated that Afghanistan currently offers numerous investment opportunities across various sectors, and foreign investors are welcome to invest in these sectors. He added that Afghanistan produces high-quality dried and fresh fruits, rugs, precious stones, marble, and other mineral resources, and is ready to begin exports of these products to the Republic of Mordovia.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund also emphasized the importance of imports from Mordovia based on Afghanistan's needs and invited Mordovian investors to invest in Afghanistan's industrial, mining, and agricultural sectors.

In response, Mr. Zdunov stated that Mordovian investors are ready to engage in Afghanistan's market. He noted that Mordovia has made significant advancements in the fields of medicine, agriculture, energy, and pharmaceutical production, and is prepared to collaborate with Afghanistan in these areas. He further mentioned that Mordovia exports agricultural products to many countries and now intends to begin exports to Afghanistan via Kazakhstan and Uzbekistan.

Later that day, Deputy PM Mullah Baradar Akhund also met with Marat Shakirzyanovich Khusnullin, Deputy PM of Russia for Construction and Regional Development. During this meeting, both parties discussed political, economic, and trade-related issues.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund stated that the Islamic Emirate wishes to elevate the level of bilateral relations between Kabul and Moscow and move them to an official stage so that, in addition to progress on the political front, tangible developments can also be achieved in the economic sector.

He further emphasized that the Islamic Emirate has adopted an economy-centered foreign policy with the objective of turning Afghanistan into a regional hub for economic cooperation, trade, and transit. This, he noted, would benefit not only Afghanistan but the entire region. In pursuit of this goal, the Islamic Emirate is working to create opportunities for expanding exports to regional and distant countries and invites the Russian Federation to invest in the construction of affordable urban housing, public schools and hospitals, roads, bridges, water dams, water supply systems, and electricity distribution networks.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund also highlighted that Afghanistan lies on the route of



# THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS PARTICIPATED IN **THE 16TH KAZAN INTERNATIONAL ECONOMIC FORUM**

A high-level delegation of the Islamic Emirate, led by the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, including the Minister of Industry and Commerce Alhaj Nooruddin Azizi, the Minister of Transport and Aviation Mawlawi Hamidullah Akhundzada, the Deputy Minister of Finance and Administration at the Ministry of Higher Education Hafiz Mohammad Hamed Haseeb, and several other officials, departed from Kabul International Airport on May 14, 2025 for Kazan, the capital of Tatarstan, to attend the 16th Kazan International Economic Forum. They received a warm welcome at Kazan International Airport from the Deputy PM of Tatarstan.

On May 15, 2025, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund participated in the opening ceremony of the 16th Kazan International Economic Forum. On the sidelines of the forum, he met with the President of Tatarstan, Rustam Minnikhanov. During the meeting, both sides discussed bilateral economic and trade relations, as well as investment opportunities for Tatarstani investors in Afghanistan.

During his remarks, the Deputy PM stated that the foreign policy of the Islamic Emirate is independent, positive, neutral, balanced, and economy-centered, and seeks good relations with all countries. Based on this policy, the Islamic Emirate aims to expand relations with the Republic of Tatarstan, especially in the fields of energy, infrastructure, and the development of bilateral trade. Deputy PM Mullah Baradar Akhund invited Tatarstani investors to invest in oil and gas extraction and refining, construction projects, railway development, and other sectors.

In response, Tatarstan's President, Rustam

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**